PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـرآة الجـهـاد

لومړی کال (۲۰)گڼه ، ۱۳٦۹ هـ ش ددلوی (۱۰مه)

مجاهـدینو (٦٥) کسه کمونـستان ووژل

دغوروﻻیت دمجاهدینو له خوا په رااستول شوي یوه رپوټ کې ویل شـوي چې نومـوړیو مجاهدینو دتیرې میاشتې په سرکې په یوه برید کې ددښمن ٦٥ کسـه دیوه تن سـیاسي مـعـاون په گـډون وژلي دي اوترسلو تنوڅـخـه یې زیات شدید ټپیان کړیدي پدې لړکې دمجاهدینو څخه هم څوکسه ټپیان اوشهیدان شوي دي روح یې ښاد وي.

(٦) فروند طـیـاره رژیـم مزدور سقوط داده شـد

درصفحه هشتم

الحاج مولوي نظام الدین حقاني «دجهاد هنداره» سره په مرکه کې

مجاهدین باید دکفري طاقتونو په وړاندې متحد اوپیاوړي دریځ غوره کړي

په دریم مخ کی

باید پرروس باندې اقتصادي بندیزونه ولگول شي

دامریکې «سینېټ»

واشنگټن :
دپاکستان یوی مشهوري ورځپاڼې په حواله دامریکې سینیت په پوره اکثریت سره یو پریکړه لیك تصویب کړی ، چې په هغې کې دروسي پوځ له خوا په بالتیك جمهوریتونو کې دزورزیاتي نه دکاراخستلو له امله له بش څخه ، پرروس باندې داقتصادي بندیزونو دلگولو په هکله دغورکولو غوښتنه شوی .
پدې هکله د امریکې داستازو مجلس مخکې په متفقه توگه یو قراردادمنظور کړی ؤ.

دکشمیري مجاهدینو لخوا ۲۲ هندي پوځیان ووژل شول

مظفر اباد :
دارسیدلو خبرونو له مخې کشمیري مجاهدینو دهندي پوځـونو په یوه کـمپ باندې حـمله وکـړه چې دهغې په نتیجه کې ۲۲ هندي پوځیان ووژل شول .
ددې خبر په تفصیل کې ویل شـوي چې ده «حـزب المجاهدین» له خوا دغه حمله دتیرې یکشنبې په ورځ دهندي پوځـیـانـو لخـوا ده«۱٦» کشمیري مجاهدینو دشهیدولو په بدله کې شـوې وه ، چې مجاهدینو له دې کمپ څخه په زیاته پیمانه وسلې او نظامي مهمات هم په غنیمت ونیول .

امـریکا روي اهـداف خـاص بـه پاکسـتان کمك میکرد

درصفحه ۸

دعراق پارلمان ددې هیواد له پیلوټانو څخه غوښتنه کړې ترڅو پر امریکني پوځونو انتحاري بریدونه وکړي

بغداد:
دبغداد له راډیو نه په یوه خپاره شوي پیغام کې ویل شوي دعراق پارلمان ددې هیواد له پیلوټانو څخه ، پر متحده پوځ باندې دانتحاري بریدونو غوښتنه کړې .
ده «اسپانې» څخه خپریدونکې یوې ورځپاڼې ددې ویره ښکاره کړې چې عراقي پیلوټان ، دڅان وژونکو حملو په ترڅ کې دائتلافي پوځونو ، دفاعي دیوال ماتوي اودامریکې الوتکې وړونکي کښتۍ گانې تربرید لاندې نیولاى شي چې له هغې څخه به امریکې ته لویه صدمه ورسیږي .

دلیتوانیا حکومت ، له مسکو څخه دخپلو جنگي قیدیانو دخوشې کیدو غوښتنه کړې

نوای وقت ددلوی ٦مه :
دلیتوانیا جمهوررئیس ، دلیتوانیا دهغو شپږو تنو اوسیدونکو دخوشې کیدو غوښتنه کړې کوم چې دتیرې جمعې په ورځ دروسي پوځونو له خوا نیول شوي ؤ.
نوموړي په دې هکله ماسکو ته یو لیك استولی اوپه هغې کې یې لیکلي دي چې دغه اوسیدونکي ، جنگي قیدیان هم بلل کیدای شي ده همدارنگه دروس پوځ له قدرت څخه په ناجایزه استفادی باندې تورن کړی دی .

روسانو دافغانستان په طبیعي منابعو قبضه لگولې

په راتلونکې گڼه کې

نومیالی لیکوال اوژورنالست ! عبدالله اوپیار څنگه مسلمان شو ؟!

په دریم مخ کی

سرمقاله : د مولوي جلال الدین حقاني په قلم

دخلیج جگړه دحقایقو په رڼا کې

بسم اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمْ
نحمده ونصلي علی رسوله الکریم :
دخـلـیج جگړه اولاً یـوه اوس دورځې دیره توده اوبحث ورموضـوع گرځیدلې اوهرڅای کې پرې دخلکو ترمنځ تاوده بحثونه روان دي او هرڅوك یې دخپلې عقیدې پوهې اودرك سره سمه څیړې اوقضاوت پرې کوي .
زماپه نظر په دې موضوع دبحث اوقضاوت لپاره ترهرڅه لومړی لازمه ده چې دصد ام حسین اودهغه دشومو اغراضو اومقاصدو په هکله څبرې وشي .
داخوټولو ته معلومه ده چې صدام حسین روس پلوی ، سوسیالیستي اوکمونستي نظریه لري اوپخپله بعث گوند چې صدام دهغې مشردی یوسوسیالیست اوکمونست حزب دی .
دصدام شوم نیتونه اوناولي مقاصد هم په ماضي اوحال کې هرچاته څرگند دي ، هغه دخپل اقتدار په دوران کې هیڅ داسې

په اتم مخ کې

په انگلستان کې دیهودیانو یوه مکتب ته اور ورته کړای شو

لندن :دپاکستان یوې معتبرې ورځپاڼې په حواله دلندن په یوه کلي کې دتیرې چهارشنبې په سهارڅو وسله والو کسانو دیهودیانو دماشومانو یوه مکتب ته اوروورته کړ چې لدې امله دمکتب یوه برخه وسوځیده ددغه منطقې پولیس ددې نامعلوموسلح والو افرادو په لټه کې دي ، چې ویل کیږي دهغه ځای دیهود دښمنه کوم تنظیم سره تړلي دي .

دعراق ۵۰۰۰ کلنو پخوانیو تاریخي آثارو دله منځه تللو ویره

دفرانس پریس آژانس: ده «پاکستان» ورځپاڼه ددې آژانس دخبر مطابق لیکي چې پرعراق باندې دمتحده پوځونو دشدیدې بمبارۍ په جریان کې ددې هیواد ۵۰۰۰ کاله پخوا دقدیمي آثارو دله مینځه تللو ویره شته کوم چې دبمبارۍ داهدافو سره نزدی پراته دي. ماهرین وایي چې دعراق په طول اوعرض کې خپاره قدیمي آثار چې ده «سامي» اوداشوري» یعني (له ۵۳۸ څخه تر٦۰٤ قبل المیلاد) دورې پورې اړه لري ، دجنگي اهدافو سره نږدې واقع دي .

دهند په پنجاب ایالت کې ۲٤ کسان ووژل شول

نوی ډیلي :
دخبري سرچینو درپـوټ لـه مخې دهند دپنجاب په ایالت کې دانسان وژنې دواقعاتو په لړکې ۲٤ کسان ووژل شول .
دهند یو خـبـري آژانس ویلي دي چې داسـام په ایالت کې دازادې متحده جبهې یو انجنیر ووژلو .

دبنگله دیش دپخواني حکومت پوولس وزیران له ملك څخه وتښتیدل

ډاکه – دپاکستان ورځپاڼه :
دبنگله دیش حکومت ددې هیواد یوولسو پخواني وزیرانو ته اخطارورکړی ترڅو داوو ورځو په دننه کې ، مقـامي حکامـو ته ځانونه وسپاري که نه نو هغوی ته به قانوني سزاورکړی شي .
دغه ډله دحسین محمد ارشادکابینې غړي دي ، اوپخواني صدراعظم قاضي ظفر احمد ، دصدراعظم پخواني مرستیال شاه معظم حسین او دکورنیو چارو پخواني وزیر په کې شامل دي ، چې دسیاسي اختیاراتو دقانون له مخې هغوی ته د(۱۲۰) ورځو دقید سزا اعلان شوه مگر نوموړي وزیران پخوا لدې چې پولیس دوی ونیسي په‌تیښته بریالي شول .

دخلیج دجگړې په اړه د قوماندانانو د سرتاسري شورا اعلامیه

په اووم مخ کې

هوږ ددښمنانو ټولې ناپاکې هیلې یوازې دجهاد پواسطه ختمولای اوورکولای شو

(الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

زموږ مسلمان ملت !
له نوموړکي تراتلو

شفیقي

پرون چې یوه دوامــــدار، یورنګه ، درانده اوخطرناك سکوت زموږپرهیواد حکم چلاوه ، زموږدملت ډیری ګران بیه هستی، په دغه سکوت کې په پټه خوله داېدیت په غیږ کی خښنی شوی ، ورکی شوی اوهیڅ نخښنه یې پاتی نه شوه ، ډیر داسي استعداد ونه چې دملت په درد یې خوړل له غوړیدلو اوثمرنه مخکی ورژیدل اودخزان په سړیادونو کی پائمې پائمې شول.

پرون ، همـاغـه څورورنکی پرون ، چې زموږملت دمرګ اوژوند ترمنځ پکی دقیامت په انتظارشپې سباکولې ، چې زمـوږملت له خپلو شتـونه پکې بې برخې ؤ ، له خپلو هستیونه پکې ناخبره ؤ اوله خپلو نعمتونو نه محروم ساتل شوی ؤ ، پرون چې زمـوږپرهیواد څوسوه کلن سلطنتی استـبداد حکم چلاوه ، زمـوږدڅوملیونی ملت ټولې هستی ، ټولې هلې ځلې اوټول استـعدادونه دیوی فـاسـدې کـورنی اوڅوعـیاشـو بدمسـتـانو لپـاره وواودهغـودراحت اوآرامی په لاره کی په کارلویدل ، پرون چې زموږهیواد اوزمـوږملت په نړی کی چانه پیژانداونه یې نوم اوریدلی ؤ ، هوهمـاغـه پرون ، همـاغـه څورورنکی اوویرورنکی پرون بنیم چې زموږپه ملت کی ورو وروړکفر اوجـهالت نښی اوآثارپه ښکاریدو شول ورو وروړسلطنتی نظام له درانده سکوت نه دشرق اوغرب ښامـارانو سرونه رااوچت کـړل ، دلویدیځ اوختـیځ دپوچ اوفـاسـد تمدن !! عـیاشـیو اوفحاشـیو زموږدهیواد پرسینه مظاهرې پیل کړې!

همغه پرون همغه څورورنکی پرون درته یادوم چې ددغه سکوت اودغـه ناوړه نظام پر ضـد څونننګیـالیو دتکبیـر ملکوتی چیغې پورته کړې.

دکـابل په تیـاره سکوت کی درکـود اوسکوت دمـاتولو اعـلان وشـو، ددغې اوږدې اوتورې شپې دپای ته رسـولو لپـاره یو څـو ننګیـالیـو مـلاوتړله هغـوی خـپلې سینې داستبداد ډاکه مارانو ته سپرکړې ، هغوی خـپلې وینې داسلام اومسلمان دعظمت اوپرتم لپاره تویولوته پیشکش کړې ، اودخپلو وینو په تیلو یې ملت ته دلار ی موندلو په غرض ډیوې بلې کړې .

هغوی په ملت څوځواری چیغې وکړې چې !

دافغانستان مسلمان ملته !

توراوسورښامارمو په شتو اوخاوره قبضه لګول غواړي !

اسلام اوناموس مو په خطر کې دی !...

خودغـه نارې دومره رسانه وې چې دټول ملت غوږونو ته ورسـیـدای شي اودې ته پرینښـودلی شـوې چې دملت غوږونه پرې خلاص شي ، دتکبیر له دغو چیغو سره هغه وخت دملت نورتکبیـرونه ېدرګـه نه شـول ، داسلام دغـه ننګیالي سپاهیان دجیلونو اوقبرونو میلمانه شول اونړدې وه چې زموږدملت دعزت اوشرف شمله دتل لپاره دپردیو په پښو کی ولوبږي زموږپر هیواد پردي لښکرې راکیوتې ، زمـوږدملت دین ، شـرف اونامـوس ته دتجـاوزلاسـونه رااوږده شول ، خوهماغو دتکبیریوڅوچیغو خپل کارکړی ؤ، دهمغـو څوتکبیـرونو برکت ؤ چې ازانګې یې وکړې اوبیا دهیواد په ګوټ ګوټ اوګړنګ ګړنګ کې راغبرګې شوې .

ملت مـو دغـفلت له خوبه پاڅیـد، ملت مـودشـهادت په لاررروان شودشرف اوعزت لاره یې غـوره کړه ، دسرلوړی اوسرېازی خپله همیشنی خوښنه کړې لاره یې خپله کړه ،اودادلوی خدای (ج) ترټولو ستراحسان ؤ چې زموږهغه دغفلت په خوب ویده ملت له یوې لسیزې نه زیات داور، وینو اوویرونو په منځ کې شـپې تیـروي ، زمــوږملت نوردنړی په ګوټ ګوټ کې نه یوازې هرچا پیژاندېلکې له پاڅون اومقاومت نه یې سپرغې اوالهام هم واخست .

هوکې ! نن زمـــوږپـه ملت کی دیمونو ســـازدی

اووم مخ کې

مردم جمهوري های بالتیك روسیه برای ازادي قرباني میدهند

سمیع الله «تازه»

بامداخله نظامی قوای روسیه وسـرکـوبی قـهـرامـیـز جنبش مردمی درجمهوری های بالتیك بخصوص درجمهوری لیتوانیا ولا تو یا مشکل داخلی روسیه بعـد نوینی راکسب نموده است درجمهوری های بالتیك درگام نخست درجمـهوری لیتـوانیا جنبش ازادی خـــواهـی نیرومندبوده وبعد ازتضعیف قدرت خودکامه کرملین مردم آنجا خواهان استقلال سلب شده شان شدند.

جمـهـوری های بالتـیك شـامل جمهوری لیتوانیا ، جمهوری لا-تویا و جـمـهـوری اسـتـونیـا درزمان قبل ازجنگ جهانی دوم کـشـورهای مـسـتـقل بوده ودرسازش های مخفی که میان هتلر دکـتـاتور فـاشیـست المان وجوزف ستـالین دکـتـاتوررژیم کـمـونست روس صورت گـرفت هتلر بمثابه رشوت به سـتـالین سفارش کـرد کـه با اشغـال سه جمـهـوری بالتیك ازجانبداری مـتـحـدین خـودداری نموده ودرگیر جنگ نگردد همان بود که سـتالین سه کشـور مذکور رااشغـال وجزخاك خویش کرد وبعد از جنگ جهـانی نیز کـه درمـراحل بعـدی روس شـامل جنگ گـردید ودرفـرجام بحیث یکی ازفـاتحین برسـر سـفـره تقسیم قرارگرفت جمهوری های مـذکـور را رسـمـاً جز خـاك خودساخت وازآن زمان کشور های مـذکـور بحیث جـمـهـوری های مـحکوم روس زیرانقـیـاد تازیانه های جـبــروسـتـم کمونستي کرملین قرارگرفته تمام منابع آن به یغمارفته وزبان ونگارش شان ازکارانداخته شده است ازمـدت بیش ازیکسـال باینطرف مـردم جمـهـوری های مذکور خواهان ازادی سلب شده خویش بوده ومیخواهند دوباره بحـیث کـشـورهای مـسـتـقل تبارزنمایند .

جمهوری لیتوانیا درین زمینه پیش گـام بوده وجنبش راقبل ازدو جـمـهـوری دیگر بالتـیك اغاز نموده وآنرا سرسختانه پیش می برد.

این جـمـهـوری مـبـارزه شدید ومشکل خودرا گـام بگام دنبال می کند اما رهبران کـمـونست کرملین هیچگاه حاضر نیستند که به جمهوری های مذکور حق سلب شده شانرا بدهند.

جمهوری بالتیك لیتوانیا رسماً ازادی خـودرا ازمـسـکـو اعـلام نموده ودرجــهـت تحکیم آن فعالیت های گسترده می کند درین اواخر با اوجگیری جنبش ملی گرایی درلیتوانیا مسکو دوهزار عـسـکـر پاراشوتی زبده خود را بنام (کـلاه سـیـاهان) بان جمهوریت فرستاد تاجنبش ازادیخـواهی مـردم را قـهـراً سرکوب نماید.

قـوای مـذکـور درمقابل مـردم ملکی وبیدفـاع دست به اسحله برده بیش ازهفده نفرراکشته ویکصدو چهل نفر رامجـروح ساخت .

بـدنبـــــالحـــــادثـه قهرامیزدرلیتوانیا درجمهوری لاتو یا نیـز کـه درانجـا مـردم خواهان استـقـلال ازحاکـمیت روسـهــای مـسـکو اند قـوای نظامی فـرسـتـاده شـده کـه تعدادی راهلاك وسي تن دیگر رامجروح نمودند .

هتلر بمثابه رشوت به ستالین سفارش کرد که با اشغال سه جمهوري بالتیك ازجانبداري متحدین خودداري نموده ودرگیـر جنگ نگردد همان بود که ستالین سه کشور مذکور رااشغال وجزخاك خویش کرد وبعد از جنگ جهاني نیز که درمراحل بعدي روس شامل جنگ گردید ودرفـرجام بحیث یکي ازفاتحین برسر سفره تقسیم قـرارگـرفت جـمـهـوري های مـذکـور را رسـمـاً جـز خـاك خـودسـاخت

درجـمـهـوری لاتویا مـانند جمهوری لیتوانیا پارلمان مرکز جنبش ازادی خـــواهی بوده ومـردم لاتویا با جابجاسازی وسایط نقلیـه وزنجیـرانسـانی مـانع ازان شدند تا عـسـاکـر روسی بااشـغـال مـقـر پارلمان هسـتـه ازادی خـواهی لاتویا راسـرکـوب نماید ، گـرباچف ازرئیس جمـهـور لاتویا تقاضـا کرد تا اعلان ازادی خود را پس بگیـرد اما مـوصـوف همـچنان برتصمیم خود پا برجاست بعد ازسرکوبی مقاومت نیـروهای امنیـتی مـربوط وزارت داخله لاتویا توسط عـسـاکـر روسی پارلمان لاتویا تصویب کـرد کـه بخاطر دفاع ازان جمهوری قوای دفاعی مخصوص ایجاد گردد .

اقـدامـات مـسلحـانه اردوی مسکو درجمهوری های بالتیك موجب خشم وانزجاردرسراسر روسیه وجهان شده است .

هلموت کول صدراعظم المان ، جان میجر صدراعظم انگلستان جیمزبیکر وزیر خارجه امریکا وصدراعظم جاپان وسایرهمه با یکصدا استعمال اسلحه را در جمـهـوری های بالتـیك شدیداً مـحکوم نموده اخطار دادند کـه این عـمـل مـیـتـوانـد روابط کـشـورهای مـذکـور باروسـیه رامتـضـرر سازد همـچنان یك نطاق حکومت امریکا گفت این امر میتواند ملاقات مجوزه آینده رهبران دوکشور را متاثر سازد .

پیمان اتلانتیك شمالی باناتو درینمـــورد بحث نمود ووزرای خارجه کشورهای بازار مشترك اروپا اخطار دادند کـه درمـورد کمك های وعده داده شده تجدید نظر خواهند کرد .

باید گـفت کـه بازار مشـتـرك

درصفحه هفتم

دعصمت مسلم اودهغه دړلي په هکله څوخبرې

عبدالوکیل

دکابل راډیو دخبر له مخې په دې وروستیو ورځو کی مشهور جنایتکار عصمت مسلم مړشو ، دهغه دمړکیدو اووژل کیدو په باب څـه وضاحت نشتـه کیدای شی وژل شوی وی اویا هم دزیاتو شـرابو اوافـراطی فحشـا په وجه مړشوی وی لاتدینی لیکنه ددغــه جنایتکاردجنایاتو له ځنو ګـوښـونه پرده پورته کـوی (اداره)

روسـانه په افـغـانسـتــان کې دجاسوسی فـعالیتونو دسرته رسولوپخاطر دخپلو اجنټانو سره په دوونو اړیکي قایموی ، یوه بېـه یې داده چې دواد (خـاد) اوددوی مـزدور رژیم نورو ارګـانونو (څـارنـدوی ، امنیت ، جنایی ...) له لاری خپل پلانونه عملی کوی ، بله داچی پخپله روسان په مستقیم ډول سره داجنټانو اوریزدینټانو سره اړیکی اوتماس لری اودکابل مزدور رژیم کومه اطلاع اوخبر تری نلری نوعصمت مسلم یو دهغو ریزدینټانو له جملې څخه ؤ کوم چې روسانو په مستقیم ډول ورسره اړیکی درلودې .

عـصـمت مسلم دکندهارولایت اوســـیــدونکی ؤ دثور دکـودتاڅخه پخوا یې په اردو کی دافسری دنده سرته رسوله . نومـوړی نظامی زده کړه په روسـیــه کی ترسـره کـړی شپږسنځی یی درلودی (یوه په سپـین بولدك کی اوسیـده ، دوی دکندهار په ښارکې اودری نوری یې دکـابل په ښـارکی اوسیدی خوپه ۱۳۶٦ هـ ش کـال کی یی دهغـو دریو ښځـو له جملې څخه چې په کابل کې اوسیدې ، یوه ووژله)

دانامسلمان کله چې افسرؤ په بدفـعلی اولنډه غـرتوب یی شهرت درلود .

خـوکله چې روسـانو ته په علنی ډول تسلیم شـونویـا وروسته داخلاقی فسادداوانحراف ، انســـان وژنی ، لوټماری اوبربریت بیلګه وګرځید .

دثورله کـودتا څخـه وروسـته کله چې دکابل په مزدور رژیم باندی دمـجـاهدینو یرغلونه پیـاوړی شـول نو روسـانو دمجاهدینو داقوت دخپلو ګټو په مـقـابل کی دیوه حـقیـقی خطر په توګـه احساس کـړ ، نوددی خطر دله منځـه وړلو لپـاره یی هراړخـیزې هڅی ګـړندی کـړې نوددغـو هلو ځلو له جـملی څـخـه یو همـدغـه دمـجـاهدینو منځ ته دخپلو اجنټـانو اوریزدینټـانو لیـږل اواستخدام ؤ اودی .

په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه روسانو په مستقیم ډول سره افغانی خاوره دنظامی قواؤ په واسطه سره اشغـال کـړه خوافـغانانو ته اسلام ، وطن ، نامـوس اوآزادی دېل هرشي په پرتـله لوړارزښت درلـود اولری یې نوځکـه دخـپل سـر اومـال څخه تیرشول خوروس اوددوی مـزدورانو ته نه یوازی داچی تسلیم نـه شــول بلکـه دافغانستان په ګوټ ګوټ کې یې پرې دغـیـرتونو اوننګونو اوورونه بل کـړل ، دهغی جملی څخه دکندهار په ولایت کې یې هم روسـی عـسـکری قـواوې دکندهارپه هوایی ډګر اودکابل مـــزدور رژیم قـــواوې یې دکندهارپه ښـارکې ترکلکی مـحـاصـری لاندی ونیـولې اودکندهارهوایی ډګراوسپین بولدك ترمنځ لاردمـجـاهدینو ترجدی څارنی اوتسلط لاندې راغله چې په نتـیـجـه کی دروسـانو اوددوی مـزدوررژیم اجنټوری فعالیتونو کې یې نه جبران کیدونکې نیمګړتیاوې اوپراېلمونه رامنځ ته کـړل اوڅخه وخت به چې کوم اجنټ دکندهار ښارڅخه سپین بولدك ته رسول کیده (دهغه ځایه به بیاچمن اوکوټې ته څیرمـه دمهاجرینو استـوګنځـایونو اودپاکـستـان

اووم مخ کې

مجاهدین باید دکفري طاقتونو ...

مرکه کوونکی « ر، ملاخیل »

پوښتنه : تاسی چی نوی دجهاد له مورچل څخه راغلی یاست ، هیله ده دخوست په شاوخواکې دجهاد په څرنګوالی رڼا واچوی ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم

دخوست په شاوخواکی داډیره موده وشوه چې منظمه جګړه روانه ده ، مجاهدین په پوره شهامت دملحد رژیم له قواؤ سره جنګیږی ولی یوه خبره چې مجاهدینو ته مهمه ده داده چې عام خلك ، ښځی سپین ږیری اوماشومان باید پدې جنګ کې تباه نشی ، ځکه داعاجزاوبی وسه خلك دي ، پدې منځ کې ځینی داسی خلك هم شته چې حکومت هغوی په زور ګیرکړی ، نولدی امله مجاهدین په خپلو بریدونو کې ترډیره حده احتیاط کوی نورانشاالله په خوست کې دمجاهدینو اوجهاد وضعه ډیره ښه ده ، پدی مخکی شپو کی مجاهدینو یوه طیاره وغورځوله ، یوه یې په هوایی میدان کې تخریب کړه ، له بلی خواهره ورځ لس ، پنځه تنه له هغوی څخه راتښتی ، اومجاهدینو ته تسلیمیږی ، دحکومت وضعه ډیره خرابه ده ، دهغوی اکمالات دطیاری له لاری کیږی ، چې هغه هم کله لوېږی اوکله سلامتی لاړی شی ، خوست به انشاالله حتماً فتحه کیږی ، خوزما په نظر یوازی دخوست فتحه دومره اهمیت نلری ، مجاهدین باید خپل ټول قوت اوقدرت دکابل دفتحی لپاره متوجه کړی ځکه اصلی هدف دکابل فتحه ده زموږ کوشش دادی چې دکابل رژیم په سرحد کې مصروف وساتو ترڅو په کابل کې مجاهدین خپل عملیات په بریالیتوب سره ترسره کړی .

پوښتنه : دافغانستان په عمومی سطحه دجهاد اومجاهدینو اوسنی وضعیت تاسی څه ډول ارزیابی کوئ ؟

ځواب : مجاهدین دجهاد له پیل څخه تراوسه دعقیدی اوایمان په وسله جنګیږی ، دمجاهدینو په عقیده اوتصمیم کې کوم بدلون ندی راغلی ،اوهماغه ډول درژیم پرضد په جهاد لګیا دي ، ځینی داسی کسان هم شته چې تبلیغات کوی ، هغوي ددښمن افرادوی ، نورمجاهدینو په جهاد کې څه سست والی ندی راغلی مجاهدین په دې عقیده دي ، چې که موږباندی هرڅه ودریږی اوکه موږ ته څوك اسلحه اومهمات هم رانکړی ، موږبه خپل جهاد ته ادامه ورکوو ، او ترهغی پوری چې دنجیب رژیم مولمنځه نوی وړی خپلی مبارزی ته به دوام ورکوو، نولدی څخه معلومیږی چې دجهاد اومجاهدینو اوسنی روحیه ډیره قوی ده.

پوښتنه : دنجیب حکومت تراوسه ولی له منځه ندی تللی ، ستاسی په نظر ددی عوامل څه دی اوددی مشکل دحل لارکومه ده ؟

ځواب : په مشرانوکې اتحاد نشته دنجیب رژیم ددی امله تراوسه پوری پاتی شوی دی ، په هغه ورځ چې دارهبران په واقعی توګه سره اتحاد وکړی اویو واحد قیادت وټاکی اومجاهدین دکابل له څلورو خواو څخه خپل عملیات کلك اوتیز کړی انشاالله دکابل رژیم به ختم وی .

پوښتنه : مولوی صاحب لکه چې تاسی وویل دنجیب رژیم دختمولو لپاره درهبرانو اومجاهدینو کامل وحدت ته ضرورت دی ، ستاسی په نظر دمجاهدینو دبشپړی فتحی اودیوه واحد قیادت دجوړیدو لپاره کومه لارعملی اوموثره ده؟

ځواب : موثره اوعملی لارزماپه نظر هغه ده چې خدای (ج) ښودلی ده ، داسلامی شریعت اوعلماؤ فتوأ باید وغوښتل شی ، اودشریعت اوعلماوو فتوی داده چې باید اهل حل وعقد کښینی ، هغوی له خپل مینځ څخه یو تن امیروټاکی چې هغه ددې کاراهلیت ولری ، زما په نظر ددی مسئلی یوازینی دحل لارداده ، داچې ځینی خلك راې ګیری اویادجهاد اوهجرت سابقه مطرح کوی ، دابه دحل لاره نه وی .

امیر باید اهل حل وعقد وی ، هغه باید عالم وی ، پوه وی ، په سیاست پوه وی ، په جهاد کې یې برخه اخستی وی ، اوداسی سړی به داهل حل وعقد شوری ټاکی .

پوښتنه : دروس اوامریکا دګډو سازشونو په وړاندی ستاسی په نظر باید جهادی قیادت کومی لاری اوپروګرامونه ترلاس لاندی ونیسی؟

ځواب : روس اوامریکا دواړه کفری طاقتونه دي ، اوزموږ مبارزه دکفر پر ضد روانه ده ، اودغه دواړه طاقتونه دمسلمانانو ګډ دښمنان دی ، اودمسلمانانو لپاره په خپلو مینځو کې پوره یووالی هم لری هیڅ کله یې هم دمسلمانانو په خیر باندی کوم کارندی کړی اونه به یې وکړی ، امریکا اوروس دواړه دمسلمانانو له بی اتفاقی څخه استفاده کوی اودهغوی په منځ کې خپل آسان زغلوی ، نومسلمانانو ته بالخصوص زموږ جهادی رهبرانو ته په کارده چې له نفاق څخه لاس واخلی اوددی کفری طاقتونو په وړاندی متحدانه عمل وکړی .

پوښتنه : له محترم مولوی صاحب خالص سره ستاسی په وروستی ملاقات کې دجهاد ، سیمی اونړی دوروستیو حالاتو په رابطه څه نوی مسایل مطرح شول اوڅه نوی مواقف اتخاذ شول ؟

ځواب : مولوی صاحب خالص دجهاد اورهبرانو له اوسنی وضعی څخه یوڅه دلسرده دی ، داچی رهبران په یوه واحد قیادت باندی نه راټولیږی له دې مسئلی څخه شکایت لری .

لکه تاسی چې خبریاست مولوی صاحب تللی ؤ دننګرهارولایت ته اواوس هم په ننګرهارکې دی، مولوی صاحب داسی تصمیم لری چې که جهادی رهبران په یوه واحد قیادت باندی فیصلی ته ونه رسیدل نودی به ځی په ننګرهارکې به له خپلو مجاهدینو سره اوسیږی . دی وایی چې دافغانستان په دننه کې دمجاهدینو په څنګ کې دده موجودیت ترپیښور نه ګټوردی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب دمرکی په پای کې هیله لرو چې د« جهاد هنداری » لوستونکو ته څه پیغام اوهمدارنګه ددی جریدی چلوونکو اومنسوبینو ته که څه هدایت لری مهربانی وکړی ؟

ځواب : هغه ورونه چې پدی جریده کې مسئولیت لری هغوی ته زما پیغام دادی چې دوی دی ددی فرهنګی اوقلمی جهاد په برخه کې خپل کوششونه نورهم ګړندی کړی ، ځکه دا د جهاد یوه مهمه برخه ده ، اوکوم مجاهدین اومهاجرین چې دغه جریده مطالعه کوی هغوی ته می هم داپیغام دی ترڅو ستاسی لدی جهاد څخه ګټه واخلی ، دجهاد په اهمیت باندی ځانونه پوه کړی اودجهاد سنګرونه تاوده وساتی دجهاد په لارکی دی دمشکلاتو اومصیبتونو څخه ویره ونکړی . والسلام

نومیالی لیکوال اوژورنالست !

له بهرنیو منابعو څخه

عبدالله اډیار څنګه مسلمان شو ؟!

ابوهارون

عبدالله اډیار دجنوبي هند دتاُمیل نادو ایالت اوسیدونکی دی ، دغه ښاغلی دپیاوړي قلم خاوند لیکوال اومشهور ژورنالست دی ، دخپل لوړذهانت اوکفایت په وجه دمشهورتاُمیلي « موراسولي » نومي اخبار (۱۷) کاله پرلپسی مدیر پاتی شوی - هغه زیاتی ډرامی لیکلي اوپه دوو فلمونو کی یی دممثل په توګه هم برخه اخستی ، همدارنګه دفلم دپروډیوسر اوډایر کټرپه حیث هم مشهور دی هغه په افسانه لیکلو کی کافي مهارت لري اوپه تاُمیلي ژبه یی په مطبوعاتو کی زیاتی افسانی نشر شویدي ، هغه زیات شمیر کتابونه لیکلي ، یوازی داسلام په باب هغه « ۱۳ » جلده ځانګړي آثار لیکلي چی په هغو کی یی « هغه اسلام چی زما ورسره مینه ده » دده له مشهورو کتابونو څخنی دی ، سربیره پردی عبدالله اډیار ته خدای (ج) له نوروډیروصلاحیتونو دشعر ذوق اوقوه هم ورښلی عبدالله اډیار چی پخوانی نوم یی اډیاردی اوبیا په ۱۹۸٦ کال کی داسلام په مبارك دین مشرف شویدی . دعبدالله اډیار پلاریو متعصب کمونست اومور یی بیا افراطي هندی ده ، دی پخوا دپلار دنظریاتو ترتاثیر لاندی ژواځی چی ددغه واقعبین اودعقل اوفطرت حکم ته تسلیم انسان دمسلمانیدو په زړه پوری کیسه ولولو ، دغه کیسه دیوی لنډی مرکی په څیر پخپله دده له خولی روایت دی داتاسو اوداهم دعبدالله اډیار داسلام راوړلو دایمان له ولولو ډکه کیسه :

« اداره »

زه د۱۹۳۵ کال‌دمی په ۱٦ مه دتاُمیل نادو ایالت په یوه کلی کې زیږیدلی یم ، پلارمی راباندی اډیار نوم کیښود ، زما پلار سخت سری کمونست اوموري بیا متعصبه هندی‌ده زموږپه ایالت کې دنورهندپرخلاف دمسلمانانو اوهندوانو ترمنځ شخړی اوجنجالونه نشته هلته هندوان پر مسلمانانو کاملاً اعتماد لري اوهیڅ ډول بدی خاطری دچا له دي ناحیې نه نه دي په یاد مسلمانان اوهندوان یوله بله راشه درشه اوګډژوند کوی ، زما دزده کړی په دوران کې له نږدی اندیوالانو نه یو تن مسلمان ؤ ، پر ما دمسلمانانو خلوص ، سادګی ، بی ریا اوسپیڅلي ژوندانه له پیله زیات اغیز کړی ؤ ، زما له پلارسره به ما دمسلمانانو مباحثی اوریدی مابه دمسلمانانو خلوص اوحقانیت له ورایه حس کاوه اودپلار په خبرو کی به مې تذبذب اوتناقضات لیدل ، ورو ورو مې له اسلام سره مینه پیداکیده خو بیا هم زه دهری « لامذهبه » وم اودپلارنظریات راباندی ډیر حاکم وو.

عبدالله اډیار دیوې پوښتنې په ځواب کې چې بیا څنګه داسلام په دایره کې شامل شوی داسې وایی چې :

زه دتاُمیلی مشهوری ورځپانی « تراسولی » لیکوال غړی وم ، هلته می پر مطالعه برسیره له ډیرو پوهانو سره دلیدوکتو ویاړوموند، دهغوی له جملې نه دورځپانی له چلوونکی « ډاکټرکروناندی » نه ما ډیر څه زده کړل ، زه له هغه نه ډیر متاثر شوم ، نوځکه دیوه سیاسی ګوند « ډی - ام - کی » غړی شوم ، په لږه موده کې مې دپرجوشو وینا و شهرت وموند ، ددې په نتیجه کی D.M.K ګوند په ایالتی انتخاباتو کې بشپړ بریالیتوب ترلاسه کړ ، صدراعظم راجیوګاندی هغه ونشو زغملی په ۱۹۷٦ کال کی یې زموږ دګوند اعلی وزیر برطرف کړ دګوند مشران یې ونیول اوجیلونو ته یې واچول ، په دی ډله کی زه هم وم ، که څه هم زه سیاسی بندی وم ، خوډیر ناروا سلوك راسره کیده ، هره ورځ به وهل کیدو ، شکنجی به راکول کیدی خو موږ هم دظلم

> خو کله چې هغه ته دامعلومه شوه چې زه لا هندو یم نوهغه سخت پریشانه شو، له سترګو یې دباران په څیر اوښکې تویې کړې او په ډیره خواخوږي یې وویلې :
>
> « ته نورو ته روښنایي ورښیې، خوافسوس چې پخپله په تیارو کې سرګردانه یې »

اوجبر پر خلاف له احتجاج نه لاس وانه خست ، پر ما دظلمونو انتها وه دمثال په ډول یو ځل له ډیرو وهلونه زما خیټه خیری شوه اوکولمې مې راووتی ، زه بیا دجیل روغتون ته یو وړل شوم هلته زما ټپونه جوړشول خو یو ډول غیر

معمولی ویره می په زړه ننوته ، دمرګ ویره وه چې زه یې ډیر ناکرار کړم - هروخت به مې دمرګ هیبتناکه څیره مخې ته ودریده اوبیا به مې چیغی ترخولی‌ووتی - زما ارامی اوسکون ورك شو ، شپه اوورځ دمرګ له ویری ناکرارشوم دویری اوډار په دغه مرحله کی زما روح دیوداسی شی غوښتنه کوله چی ماته دویری او پریشانی نه نجات راکړی - نوځکه می دلومړی ځل لپاره دمذهب په باب سوچونه پیل کړل دپراخه کایناتو او دهغو دخالق په باب راسره فکرونه پیداشول - کله مې چې له خپلی میرمنی نه چې هغه عیسوی وه دمذهبی کتابونو دراپیداکولو غوښتنه وکړه نوهغې دعیسائیت په باره کې ډیر اثار راوړل - ماولوستل خوذهن مې داده نشو ، په دې ډول مې ، هندی مت ، بدمت ، جینی مت اویهودیت په باب کتابونه ولوستل ، په دې کې مې هم ډیرسوالونه بی ځوابه پاتی شول اوزما دروح تنده ماته نه شوه .

بالاخره مې داسلام مطالعه پیل کړه اودقران کریم انګریزی ترجمه مې ولوسته دقران دغی ترجمی زما په زړه اودماغ خواره ګردونه تکوهل ماته دخپلو پوښتنو ځوابونه پیداشول - دویری اومایوسی خپسه رانه والوته دقران دغه ایت ماته ستره تکیه راکړه چې « ژباړه ، ویره یوازی له خدای (ج) نه په کارده اوڅوك چې له الله نه ویریږی هغه له بل هیچانه نه ویریږی » زه ډاډه شوم چې اسلام رښتیا هم دژوند دستوراومکمل قانون دی ، اوپه دې کې دانسانانو دمادی او معنوی غوښتنو دپوره کولو بشپړ صلاحیت شته.

کله چې له جیل نه راووتم نومي داسلام په باب هراړخیزه اوپراخه مطالعه پیل کړه مادمولاناابوالحسن علی ندوی - مولانا ابولاعلی المودودی اومشهور تامیلی عالم پی ، اس ، ای محمد زیات اثار ولوستل ، کله چې زه داسلام په حقانیت ښه مطمئن شوم نومي دتامیل نادو ایالت په یوه مشهوره ورځپانه « نیروتم » کې داسلام دحقانیت په باره کې پرلپسی مضامین خپاره کړل - ماددغه مضامینو سلسله د« هغه اسلام چې زما مینه ورسره ده » ترسرلیك لاندی پیل کړه ، په دې کې ما زیاتره‌یوست ترڅو داثابته کړم

شپږم مخ

جهادي ادب

ولويدې ککرۍ يوپربل پسې انبارشولې
لاره دغورځنگ يې په سرو وينو بدرگه کړله
هسې ستر طاغوت يې په مورچل کې رانسکور کړلو
دې مؤمن ولس جگه دټول امت شمله کړله

هندي استعمارغوښتونکو ته

ځوهري

زما دقام بچي دې اوس هم پيژندلي نه دي
زما دولس مسلمانان دې لاليدلي نه دي
په کچه کاڼي يې تلې تاسم تللي نه دي
اوس دې لا هم په پاخه کاڼي ازمويلي نه دي
تايې تلخي دشيريني په ځاى څکلي نه دي
تاته يې تورې لاله تيکې راايستلي نه دي
لايې غابښونه دغضب درته چيچلي نه دي
لا يې غصې دتاپه برخه پاريدلي نه دي
که امان غواړې دافغان بچو نې مه ويښوه
دادرته ښه ده ددې ونو ځانگې مه خوځوه
ته دمحمود دزور پوښتنه له بتانو وکړه
لرڅه تپوس دې دمندر له پنډتانو وکړه
ددې ولس دزور پرسان له انگريزانو وکړه
خاص ته تپوس دمگناتن له لښکريانو وکړه
يايې پوښتنه دقوت له چنگيزيانو وکړه
ياته پوښتنه له مغلو تاتاريانو وکړه
داستفهام دپاره سوال ته له روسانو وکړه
زموږ دتکبير دزور تپوس يې له فوځيانو وکړه
له هغه وروسته بيا ميدان دسرجنگۍ ته راځه
دجنگ دپاره بيا چگر دسربازۍ ته راځه
ته لابې هوشه يې په هوش باندې راغلې نه يې
ته لاويده يې چا له خوبه پاڅولې نه يې
لکه چې جنگ نه دميوند چاخبر کړې نه يې ؟
لا دافغان دجنگ په اور کې سوځيدلې نه يې
ته لا تراوسه دزمرو چنگ ته راغلې نه يې
چالاتړا وسه ککوۍ باندې وهلې نه يې
ته زلزلو دهندوکش لاښوورولې نه يې
واورينو ځوکو دسپين غرلارغږولې نه يې
چې دزمرو کورته راځي هغه ځوک سونلوې
چې دبازځالې لټوي پوه شه بصر نلوې
منم چې نږه دې راتله غواړي غونۍ سيمه ده
دادتفريح دپاره ډيره گلالۍ سيمه ده
آب اوهوايې ډيره ښه ده دمستۍ سيمه ده
دښوخوږوخوږو ميوو اودهستۍ سيمه ده
خوغليم گيه دغه ستادتباهۍ سيمه ده
دستادمرگ اوبربادۍ اورسوايۍ سيمه ده
داوطن ټول سنگر سنگر دى جنگيالۍ سيمه ده
هريو طاغوت لره دمرگ اوبربادۍ سيمه ده
افغانستان دى دسرتيرو جنگياليانو وطن
پوه شه چې دادى دأتلو گوهريانو وطن

اسلامي هود

عزيزالله حصاري

اتل په ننگ مين يم له دښمنه نه کړم ځنگ
په ننگه دوطن که شم پخپلو وينورنگ
په توره دجهاد به کړم دکفر ملاورغوځه
داهود مې اسلامي دى باهمته ډك له ننگ
روان دي بهيرونه دمنزل په تکل خوځي
خپلواك به کړم هيواد ويره مې کله شي له جنگ
ولاړيم ملاتړلی داسلام سنگر کې پايم
افغان يم مجاهديم دغليم په زړه خدنگ
ترهغو چې تسليم دصفوي په شانتې نه شي
جهاد به وي جاري که شم په دواړو پښولنگ
نيولی يمه تندې دملحد وينو ته ډير
په ورکه به يې لرې کړم دسوي زړه نه زنگ
قاصر دکوندورندو يتيمانو ځوريدلو
به ژړبه سزا ورسي جابردوخت اورنگ
ارمان به يې پوره هيڅرې نه‌شي کرغيړن
بې ننگه به يې مرگ وي په ژوندون چې وي بې ننگ

تکل
انقلابي وختونه

سيدشهريار

زما مخى ته دوه تنه داسي هم اوړي رااوړي چې په ورکوتوالي هم ملگري وو اونن هم يوځل بيا ملگري شول دلمر دراختو سره سم هريو پخپل کارپسې روان شي اودخپل مرام اومقصد دسرته رسولولپاره لاس اوپښي وهي .

يوخو ملا رفيق دى چې سهار ځادر په ولو واچوي اودموټرونو هلو ته ځان ورسوي که نابېره دده کورني راشي اودى يې استقبال ونه کړي خوډيره بده خبره به وي اوکه نه نودنوومهاجرو نه خوبه دخپلې خيل خانې احوال معلوم کړي ، خو چې په دې يو کارهم بريالى نشي نوخپله مخه دکوم کيمپ پلوته وگرځوي کيداى شي چې نوى کډې راغلې وي اوخداى (ج) پکې زما مور پلاراوبچيان هم راوستي وي خو هرځاى ته په ورسيدو يې زړه داسي وترقيږي چې بيا هغې پلوته دکتو توان هم په ځان کې نه ويني ، کله کله خوچې دکوم ښه سړي سره مخامخ شي نودسوالگر گومان پرى وکړي ځکه چې په ځيره کې يې دمفلسۍ اوبې وزلۍ اثارله ورايه ښکاري نوروپۍ يا اته انې ورته په لاس کې ونيسي دابې وزله خجالت اوشرمنده غوندې شي ، اوگردچارپيره خلکو ته وگوري چې ماخوله تاسو نه ځه نه دي غوښتي زه سوالگرنه يم

ورکونکي هم پخپلو کړو پښيمانه غوندې شي ښه وروره خداى پاك دې اباد لره خفه نشي ستاداسترگې داسي ښکاري لکه سوال چې کوې.دى ورته سمدستي ووايي چې هو زما سترگې سرخوړلې په سوال باندې عادت شويدى خوهغه سوال دپيسو نه بلکه دميني ، شفقت اومهرباني سوال دى خلك نورسرورسره نشي خوړولاى اوپخپله مخه ترينه وکشيږي .

اوبلې خواته وطن مل دى چې اوس اوس راغلى دى اوداسې ښکاري چې قضاوت ټول همده ته پاتې وو مجاهدينو ته سلامي شوى دى اودپخوانيو کارونو نه يې توبه ويستلې ده اوس نوحجره لري،موټر لري نوکر لري هره ورځ دعوتونه او ميلمستياوې وي حجره يې هره ورځ گرمه وي دښمنان اودوستان يې گډوډ دوستان شوي دي اودخپلې ساعت تيرى وختونه مخ په وړاندې بيايي اوپه خارجي سويه يې هم ښه قدراوعزت دى پيژندل شوى سړى دى دهرې راډيو خبريال دده دمرکې وړى دى او دى هم دهغوى سره دخبرو .

دلته ښه خوشحاله دى ځکه چې هلته خودخوښۍ اوخوشحالۍ سره بيا هم ددزدوزويره وه اودلته خودالله تعالى فضل دى .

خودده لاړې له ويرې هغه وخت په چينغرك کې ونښلې کله چې دملارفيق وړې سترگې اودازيږ چاودلى مخ ووينې زړه يې نشي ټينگيداى اوواراوپار يې خطا شي اوداسې انگيرى چې گنې ملا رفيق دده گريوان ته لاس اچولى اودمحاکمې لپاره يې راکاږى خونه داسې نه ده هغه غريب خودى په خپلو غمونو شريك يو خوږ اودرمند انديوال گڼي اودغم غلطولو لپاره وخت ناوخت دده ځاى ته راشي اويو ساعت نيم ورسره تير کړي ترڅو خپل فکر په بل طرف واړوى که څه هم وطن مل اوس دې بيهوده ساعت تيرۍ ته نه وزگاريږى خودده له کبله ځان خامخا وزگاروي ځکه چې

ويشتلى په زړه بيداروي ، ملارفيق دومره پوهيږي چې ملگرى مې گوندې تيرشويدى خوداخبره يې په مغزوکې هم چيرى نه ده گرځيدلې چې گنې زما دکور په باب به له هرچانه زيات معلومات دده ته وي ، خودده په ليدو وطن مل ته دسپين گل کاکا دناروغۍ هغه زگيروى کوم چې يې اخرى زگيروى وگرځيدل اودده د دوه کلن بچي دخواږه خوب هغه پريشاني ، کوم چې يې اخرنى خوب وگرځيد اودموراوښځې هغه زارۍ اوعذر وړپه يادشي

پنځم مخ کی

لنډۍ

دشهيدانو روی دی خدايه !
راته ازادکړې داسلام ټول وطنونه
دپاسته تخت بچونې نه يم
ځان ته مورچل په سپيره غره کې جوړومه
يتيمان پاته‌شول وران کورکې
شهيده ولاړې دجنت کوه سيلونه
زلمی شهيده ټوپك راکړه
ستاپه سنگرباندې به سرقربانومه
بارانه ورو ورو پرې وريږه
په مجاهدو باندې نشته دا لمانونه

پريږدی خلکه ! پريږدی !!

پريږدی خلکه ! پريږدی چی دنيا راباندی ورانه شي !!
توره شپه خوره شي سپين سباستړی ستومانه شي !!
پريږدی چې درحم خاوندا نو زړونه وچوی !!
راشي نفرتونه دحسد خونه و دانه شي !!
پريږدی خلکه ! پريږدی چې وحشت په غرغنلونو شي !!
ظلم، بربريت له حده واوړی په موجونو شي !!
پريږدی چې زړه سواندې پرگنې په چيغو وژاړي !!
وژاړي په کوکو شي ستومانه په ويرونو شي !!
پريږدی خلکه ! پريږدی چې ښکيلاك ښکيل ولسونه کړي !!
وکړي يرغلونه وران دبيوزلو کورونه کړي !!
پريږدی چې دخوارو کوډې گډې هيلې وسوزي !!
مړې ورته ډيوې کړي ورته خاورې اميدونه کړي !!
پريږدی خلکه ! پريږدی چې تاړاك مووينې تلې کړي !!
نورلاهم زړنگ شي راته ورانې موجونگړې کړي !!
پريږدی چې په حال موله آسمانه اوښکې توبې شي !!
غرونه په ژړاشي پريښتې په کړيکوستړې کړي !!
پريږدی خلکه ! پريږدی چې جهان راباندې کوکې کړي !!
هرڅه په ژړا شي غردامان راباندې کوکې کړي !!
زړه د(حنيفی) له ډيره غمه په سلگو شي بيا !!
خلك خولا پريږدی چې مرغان راباندې کوکې کړي !!
بيا چې دتکبير چيغې له کومې نه بهرکړمه
واړه ظالمان به رانسکورزيراوزبر کړمه

«حنيفي »

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دمسلم ژباړه

ددوی یوبل ملګری «رحمت الله» وایی :

ز‌ه د«اورال »سیمي اوسیدونکي یم زما عمر (۲۲)کاله دی ، زه ددی سیمی له پخوانیو اوسیدونکو څخه شمیرل کیږم ،زه په پوځ کی جبراً شامل شوی یم ،زما په ډول په زرګونوشته چې زموږله سیمی په زورپوځ کی شامل کړای شوی ، حقیقت دادی چی دروسیی په پوځ کی داسی پوځیان ډیر کم دي چی په خپلی خوښۍ دادنده انتخاب کړی وی ، هغه څه چی اوس زه پری بریالی شوی یم ، دزرګونو خلکو په زړونو کی داهیله شته خودمرګ څخه ویریږی هغوی داریږی چی مجاهدینو سره دیوځای کیدو دمخه به ووژل شو زه په دی خاطر دروسی پوځ څخه راوتښتیدم چی زما په فکر روسی پوځ کی موجودیت هرحالت کې مرګ ؤ که دمجاهدینو په لاس لګیدلی وی مړشوی به وی اوکه ژوندی تللی وای ترمرګه په بدحالت کې به می ژوندکاوه هلته دانسانی حقوقو په نوم هیڅ نشته ، په روسیې کی دانسان په شان بل بی قیمته شی نشته »

هغه زیاتوی :« افغانستان کې غم روسی پوځیان ډیر بدژوند تیروی ، صاحب منصبان پری دخانانو په شان پاچاهی کوی، اوپوځیانو ته دسپو په سترګه ګوری پوځیانو ته شراب اوسګرټ ډیر زیات ورکوی ترڅو هغوی دنشی په حالت کې دمجاهدینو سره وجنګیږی ، خو هغوی ته بیا ښه خوراك نه ورکوی تردی چی پوځیان دخوراکی موادو دلاس ته راوړلولپاره خپلی وسلی هم خرڅولی»

روسانو چی دمجاهدینودله منځه وړلو لپاره کوم پوځیان افغانستان ته رالیږلی ؤ ، په هغوی کې ځنی داسی هم پیداشول چی داسلام په نورمنورشول اوهغوی دمجاهدینو ورونه وګرځیدل کوم چی ددوی دشمنی ته راغلی ؤ ، دهغوی له جملی څخه یو «سیرګی » دی ، «سیرګی» په «نولس» کلنۍ کی ددولسم ټولګی څخه فارغ شوی دی هغه دماسکو ښاردهغو ځوانانو له جملی څخه دی چی له جنګ څخه کرکه لری «سیرګی » دروسیې کمونست رژیم په زورافغانستان ته راولیږه خوځنی وخت انسان دداسی شرسره مخامخ کیږی چی خیریی پکی وی ، «سیرګی » وایی :

«که زه په ماسکوکی اوسیدی اودظالمانوسره یوځای دمظلومانو ځپلوته نه وی راغلی نوځنګه به داسلام له ابدی پیغام سره اشنا شوی وم»

«سیرګی » مجاهدینو په «کندز» کې یوه موټرکی نیولی ، دانیونه ده ته دکفراوظلم له توروپنجروڅخه دخلاصی سبب وګرځیده ، هغه اوس داسلام په دین مشرف شوی اومجاهدین یی «احمد » بولی ، سړی چی هغه په لمانځه وګوری کله به فکروکړی چی دې انسان یووخت پرکمونیزم فخرکاوه هغه اوس دخپل تیرژوند سره اړیکی شلولی هغه اوس قرآنکریم حفظ کوی اوداسلام پرښوونوځان پوهوی هغه اوس په فارسی ژبه ښه پوهیږی اودروسیی پرځای افغانستان دځان د اوسیدلو لپاره راتلونکی هیواد بولی .

«فیکتوف»هم دهغو خوش قسمته روسی پوځیانو څخه یوتن دی چی افغانستان ته په رالیږلو سره داسلام په نورمنورشوی دهغه مجاهدینو ملګری هغه د «محمداسلام » په مبارك نوم یادوی ، هغه وایی «زه دروسی پوځیانو سره دافغانستان فتح کولو ته راغلی وم خومجاهدینو زما زړه اوذهن تسخیرکړاواوس زه «فیکتوف » نه بلکی «محمداسلام» یم زما هیله له خلکو داده چی نورماته روسی ونه وایی زه داسلام بچی یم اوزما هیواد داسلام خاوره ده .»

(۳۱) کلن «فیکتوف» د «یوکرائن» د «ازدنو» په سیمه کی زیږیدلی همالته ئی خاپوړی کړی اوخپل تعلیم یی سرته رسولی ، هغه وروسته په پوځ کی شامل شو اوددندی دسرته رسولو لپاره افغانستان ته راولیږل شو هغه بالاخره یوه ورځ کله چی په جیب موټرکی کومی خواته روان ؤ دمجاهدینو له خوا ونیول شو مجاهدینو دهغه سره ډیرښه برخورد وکړاوپه ډیره مینه یی خپل مرکزته راوست ، دمجاهدینو دی کاردهغه زړه تسخیرکړاوهغه اوس دمجاهدینوسره اوسیږی دهغوی سره یوځای دوډۍ خوری دهغوی سره یوځای روژه نیسی اواخترونه لمانځی «فیکتوف» اوس دیوه غټ عالم څخه دقرآنکریم زده کولوپه خاطرهغه هره ورځ دوکیلومتره لری یوه کلی ته ورځی ، هغه تراوسه نورزیات دینی کتابونه ویلی اواوس دقرآنکریم دزده کړی ترڅنګ «قدوری شریف » وایی ، هغه دافغانانوپه شان کالی اغوندی اوکله چی قرانکریم قرائت کوی دشنوسترګو اوسرووېښتوپرته یی هیڅ بل شی په تن کی نه لیدل کیږی چی دمجاهدینو سره یی توپیرپری وشی ما چی کله دپخوانی «فیکتوف » اواوسنی «محمداسلام » څخه وپوښتل چی ایا ستاړه نه غواړی چی روسیې ته بولیك ولیکی ؟ هغه ځواب راکړ: «اخرزه دڅه لپاره چاته لیك ولیکم ، دوهم داچې دلته اوس زما مصروفیتونه دومره زیات دی چی ماته ددی فرصت په لاس نه راځی چی چاته لیك ولیکم »

«بیشم » چی د «ترکمنستان » اوسیدونکی دی اواوس یی مجاهدین «عبدالله » بولی هم دهغو خوش بختو روسی پوځیانو له جملی ځنی دی چی مجاهدینو نیولی اواوس داسلام په دین مشرف شوی «عبدالله » مجاهدینو د «پروان» ولایت د «جبل السراج» په سیمه کی نیولی هغه اوس ښه روانه فارسی غږیږی اومجاهدینو سره په اکثروعملیاتو کی برخه هم اخلی هغه دجهاد په دوران کې دیوه بم دچاودیدو له امله دری ګوتی هم دلاسه ورکړی تنکی اوځوان «محمداکرموف» چې مجاهدینو نیولی وایې :

«نه زه بیرته روسیې ته تلل غواړم نه بل چیرته ... زه داسلام داصولو دروزنی هیله لرم»

دده مکمل نوم «محمد اکرموف رضعتوبوریچ» دی دهغه نژاد ازبك دی اوپلاریی په تاجکستان کی اوسیده هغه چی کله دروسی پوځیانو په ډله کی افغانستان ته راغی دلته یی دروسیی پوځیانو سره یواځی (۱۳) ورځی تیری کړی ، دهغه کورد «ازبکستان» دمرکز «دوشنبی » د «قورغان» په سیمه کې دی هغه (۱۲) ټولګی خلاصې کړي اوعمریی (۱۹) کاله دی د «اکرموف احوال دهغه له خولی واوری :

د۱۹۸۳ کال دډسمبرپه (۲۱)زه په پوځ کی شامل کړی شوم اودری ورځی وروسته یی د «ترکمنستان» د «عشق اباد »سیمی ته راولیږلم دهغه ځای څخه یی زه دنورو (۱٤۱) ځوانانو سره په الوتکه کې افغانستان ته راولیږلم زما پلاراونیکه مسلمانان دی اواوس هم زموږپه سینوکې داسلام مینه ژوندۍده زه چی کله افغانستان ته دمجاهدینوپرخلاف جنګیدلو ته راولیږل شوم ډیرپه اندیښنی کې وم ماته په روسیه کې نظامی ښوونی نه وی رازده کړی په دی خاطرکله چې افغانستان ته راولیږلم راته وی ویل خپلی دندی ته دتللو دمخه دوه میاشتی نظامی تعلیمات زده کړه ماته یی دادنده راسپارلی وه چی زه به داسی یوی قطعی کې کارکوم چی په کلیو کې دمجاهدینو دپلټلواونیولوچاری پرمخ بیایی یوه ورځ زه په کابل کې دخپل مرکزڅخه لرڅه لری یوه دوکان ته دنصواراخیستلو په خاطرلاړم داسیمه «دارالامان » کې ده هلته دتللو اجازه ترهغه وخته پوری ماته انضباطانو رانکړه ترڅوچی ماورسره دچرسو دراوړلو وعده ونکړه زه ددوکان نږدی سیمی ته ورسیدم چی ناڅاپی مجاهدینو پرما حمله وکړه اوویی نیولم اوپه دی توګه افغانستان کې زما (۱۳) ورځنی دنده پای ته ورسیده زه اوس دمجاهدینو سره اوسم اومااله هغوی څخه داسلام په باب زیات څه زده کړی اونورڅه به هم زده کړم »

همدارنګه دروسیی ترتسلط لاندی اسلامی ریاستونوزیات شمیرپوځیان هم دافغانانو پرضد جنګولوته راولیږل شول خودهغوی زړونه دافغانستان پرمسلمانانو سوځیدل په دی خاطربه ددوی زیاترو دجنګ په دوران کې هوایی ډزی کولی ، بی ځایه به یی باروت ضایع کول اوبیرته به ستنیدل اودبیرته ستنیدو په وخت کی به یی هم وسلی اومهمات دمجاهدینو لپاره غروکې پریښودل د «ازبکستان» دمرکز «تاشکند» سیمی (۲۱) کلن «الله دینوف مسعود سیرانوچ» چې کله دخپل ژوند کیسه کوی په جذبی راشی هغه نژاداً «تاتار» دی اوپرخپلی مسلمانی فخرکوی دهغه کورنۍ دتاشکند ښارد کیرف په سیمه کې اوسیږی هغه تر(۱۲) ټولګی پوری د «موسی جلیل » نومی ښوونځی کې روزنه کړی «موسی جلیل » یوسخت بی دینه کمونست ؤ چی د «هتلر» پرضد جنګ کې ئې مهم رول لوبولی ؤ د(۱۲) ټولګی ترپای ته رسولو وروسته مسعود دزراعت په پوهنځی کې زده کړه کول غوښتل خوپه دی پوهنځیوکې «تاتاریانو»ته دداخلی اجازه نه ورکول کیده په دی خاطر هغه د «ډرافتمین » ډیپلوم لاس ته راوړتردی وروسته هغه دزراعتی کارونو دپرمختګ لپاره دسامان الاتو جوړولو یوی کارخانی کې دنده واخیسته ، هغه دنقشی جوړولو له ځانګی وتلی اوڅوارلس میاشتی ئې په دی اداری کې کارکړی ترهغی وروسته پوځ کې شامل کړی شو ، دده دراغوښتلو لیك د «کیرف » سیمی دمشر «مورتاروف » له خوا ورلیږل شوی ؤ داد(۱۹۸۱) کال دنومبرمیاشت وه چی روسان په افغانستان کې دسختو نظامی تاوانونوسره مخامخ شوی ؤ مسعود هم داریده چی دی افغانستان ته ونه لیږی بالاخره خودی مجبورشو اوپوځ کې دشاملیدو امریی ومانه ، په روسیې کې یواځی د «پلیټ بورو » دغړوزامن دعسکری څخه معاف دی اودهغوی پرته پرټولو خلکو دعسکری دوری سرته رسول حتمی دی.

انقلابي وختونه ...

په کومه شپه چې وطن مل دخپلو سرتیرو ملګرو سره دتالاشی لپاره دده په خونه ورننوت اوټوله کورنۍ یې له تیغه تیره کړه ، اخر قوه راغلی وه اوملارفیق حاضر نه ؤ اوپه سیمه کی به چې څوك حاضر نه وو نوښکاره مجاهد وواوبیاکله یې چې دسپین ګل کاکا له لاسه خوبونه هم حرام شول دسترګو دپټیدو سره به سپین بیرغ دسپین ګل کاکا په لاس اوکوچنی لمسی په اوږوسپور دالله اکبر چیغی وهلی اوده ته به یې ګواښونه کول کله خوبه ډی له ډیری ویری دکټه هم راوغورځید اوبیا به یې ټوله شپه ناقلاره شوه خوکله یې چې سرپه سیوری شه هرڅه ترینه هیر شول او په مزو یی سرشه خوله بله قسمته په لومړی ځل چې ملارفیق له ده څخه دخپلی کلۍ په باره کې پوښتنه وکړه څکه چې هغه خوبه هسی هم په نوو کلو پسی ګرځیده اوبیا دی خوبیې زوړ اشنا ؤ نوده ورته داو ورکړ او ورته یې وویل چې راروانه ده اوډیره ژړبه راشی اوبیا به ته ورشی اوس چې یې خپلی متی قوی ولیدی چی که ملا رفیق خبرهم شی خوزما هیڅ نه شی کولای اواوس یی کله ناکله په ځینو انقلابی وختونو کې هغه پخوانی احساسات بیا راوپاریږی نوپه ده باندی ورغبرګ کړی چې څنګه ملا رفیقه نه دې کده رامعلومه شوه اونه ته ورغلی !!!

کشمیر تیرکال دوینو په ډنډ کي (۳)

دسید شهریار ژباړه

دپاځونونو دنه ارامیدلو له امله بیرته وروغوښت .
دجګموهن څخه اوس دزندان یو بندی جوړشوی دډهلی په اندیاانټرنیشنل سنټر لائبریری (دهند بین المللی مرکزی کتابخانه) کی دوسله والو باډی ګاردانو ترسیورری لاندی خپلی شپی ورځی تیروی دده ساتونکی کتابخانی ته راتلونکی هرشاګرد دکشمیر مجاهد ګڼی اودښمن تعقیب اوڅارنی لاندی یې نیسی ځکه چی دمجاهدینو دخپاره شوی تورلست په سر کی دده نوم لیکل شوی ددغه وحشی انسان کیدو له امله دهندوستان پوځونو په خلکو باندی دظلمونو یوه نوی لړی شروع کړه دسوله ایزو مظاهره چیانو اودبی ګناه لارویو دوینو په بهیدلو سره بیاهم دهند دبی رحمو پوځیانو تنده ماته نشوه دغه سیمه یې داړدوړ په تورتورنه اولیوانو ته یې حواله کړه په دی ډول دجمهوریت

سرکال هندو مشر جګموهن په کشمیر یانو باندې دومره ظلمونه وکړل چې دخلکو څخه یې چراغ بیګ هیر کړو - جګموهن دمولوي میرواعظ فاروق په جسد باندې هم ګولۍ واورولې

دظلمونو له امله ډیرو باوجدانه هندوانو اومسلمانانو چیغی ووهلی ، دجنتاګوند یو مشر (ډاکترسبرامینیم سوامی) ده ته دبلډوزر لقب ورکړو ، دهند جماعت اسلامی د(ډهلی دترکمان ګیټ) اوپه کشمیر کی دعامه وژنی له مخی دی یو اجرتی قاتل اودهند جمعیت العلماء ګوند دی یو غټ ظالم بللی دی .
د ۱۹۹۰ ع کال په شروع کی دازادی دتحریك په جلو جهد کی دلازیات والی رامنځ ته

د(رنګینی ښاپیری) له لاری بی دجرم دقانون یوه برخه وګرځوله اودعوامو دژوند کړی بی ورتنګه کړه .
۱- ددی قانون له مخی په څه شك باندی دلاری لاروی په ګولیو ویشتل کیدای شی
۲- دڅه اجازت نامی نه پرته بی له څه ځنډه دهریو کورتالاشی اخیستل کیدای شی .
۳- هرڅوك دشك اوګومان په وجه نیول کیدای شی .
٤- دباغیانو (مجاهدینو)

ځایونه دشك په اساس سوځول کیدای شی
دپورتنیو کارونو په سرته رسولو کی به له یوه پوځی څخه قانون؛عدلیه اویا بل هیڅوك پوښتنه نشی کولای .
داپه حقیقت کی هندی پوځیانوته دسر دپورته کولو په شك کی دپوره تباهی اوبربادی،واك ورکول ؤ ددغی شرمیدلی اوتورقانون دمنظوورلو څخه وروسته هندی پوځونو دځنګلی ځناورو رویه پیل کړه سږکال دکشمیر تاریخ ددی تورقانون په منګولو کی ماشومان؛باعصمته ښځی اوکمزوری بوډاګان هم راغلل ځکه چی مجاهدینو ددغه قانون خلاف عمل کولو خو هندی پوځونو به خپله تهوله غوسه په بی ګناه خلکو سړوله چی داپه حقیقت کی په وادی کی دبی قانونی یوه (اجازت نامه) وه چی دهندحکومت خپلو پوځونو ته د(ډسټربډ ایریاایکټ) په نوم باندی ورکړی وه.
دغه ناروا فعالیتونه هغه وخت پیل کړای شول چی دمجاهدینو په حملو کی زیات والی راغی اودغاصبو پوځیانو حوصلی ماتی شوی نوددغی ځانګړی

واك مقصد داؤچی دپوځونو غورځیدلی حوصلی بیا رااوچتی کړی .
ددغی حالاتو دلیدونکو وینا ده چی کله پوځی چاونیو ته دتباهی اوبربادی دغه اجازت

ددي کال په اوږدو کي مجاهدینو دتولاب وادي په سیمه کي ددښمن یو عسکري هلیکوپټر درانسکورولو دعوه کړیده . هندي خبري وسایلو دهلیکوپټرراغورځیدل دجوي حالاتو له امله ګڼلي ده ، خو مجاهدینو دالوتکي په عملیاتو کي دبرخه والو نومونه اودپاکستان دملي ورځي په مناسبت هغوي ته دمډالونو ورکولو اعلان هم وکړ

نامه ورکړای شوه نوپدغه ورځ دپوځیانو په بارکونو کی جشنونه وشول پوځیانو د(اتش بازی) په لوږو اودهوایی ډزو کولو په واسطه خپله خوښی څرګنده کړه ددی قانون دټولو نه ړومبی ښکاردعبدالغنی نقاش
۶۰ کلنه ښځه وه چی پخپل کورکی ناسته وه اودجشن په دوران کی دهوایی ډزو په لګیدو شهیده کړای شوه اوپه دوهمه ورځ یی دپوځی نظام ټول زوربی ګناه ژورنالستانو ته هغه وخت وښودل شو کله چی یو تن ژورنالست خپل پاس پوځیانو ته ښکاره کړ ، نوله یوه پلوه یو پوځی دتخریبکاری په خاطر دورننوتو هڅه کوله او ځنی بندیان یی دخپلو ګټو اوفایدو لپاره ژوندی ساتل او په دوی باندی به یی هم ناروا ظلمونه کول ددغو ظلمونو څرګندونه له هغه یو خط څخه ښه په ډاګه کیږی

وغړمبیداوویی ویل : مورږ بیګاه شپه ولی جشن وکړ ، اوس پاس ماس نه چلیږی نورهغه وختونه تیرشول «دمارشل لا » ددی قانون په اساس یی داوسیلو ځایونه په هدیرو بدل کړل .
دنیول شویو ځوانانو مړی یی په پوځی چونیو کی ددی مقصد لپاره کیښودل چی ګنی دغو ځوانانو له پوځی زده کړو نه وروسته وادی ته

چی دتفتیش له دفتر څخه یو بندی دیو مسلمان ملازم په لاس په ورځپانو کی خپورکړ چی متن یی داسی دی:
ځوانان پدی مجبوروی چی دیوبل په خوله کی تشی متیازی وکړی یوبندی دڅلورو جلادانو له خوا په متروکو وهلی کیږی چی ددی ظلم له لاسه ټول بدن په وینو لړلی کیږی په تناسلی غړو پوری دپړی په واسطه درانه کانی تړی اودشرم په ځایونو باندی پټرول اچوی ګوتی اوپښی پریکوی دږیری اوبریتونو ویښته وباسی اوداسی نور(سری نګر - چټان اونیزه) ددغی ظالمانه شکنجو په اساس په ۱۹۹۰ کی په سلهاوځوانان دمردی له نعمته محروم کړای شول .
دپوځی قانون دوهمه نتیجه دښځو دبی حرمتی په شکل راښکاره شوه داخویوه ښکاره اوپه ډاګه خبره ده چی په اسلامی ټولنه کی دموراوخوردعزت اوابرو ساتل څومره ارزښت لری خو دغو داړونکو پوځیانو دمجاهدینو

(نور بیا)

عبدالله اډیارڅنګه مسلمان شو ؟!...

چې اسلام دبل هردین په مقابله کې مکمل اودانسان دفطرت سره سم دی ، دایوازی اسلام دی چې په هره زمانه کې دانسانانو مادی اومعنوی غوښتنو ته پوره اوقانع کوونکی ځواب ویلی شی - دغه مقالی وروسته په کتابی شکل هم خپری شوی اودهند په ډیرو ژبو وژباړل شوی او بیا زما ددی لیکنو په برکت ډیر هندوان داسلام په مبارك دین مشرف شول ، تردغه وخته داسلام په باب زما (۱۳)کتابونه خپاره شوی وو چې په تعلیم یافته پاټکی کې یې ښه مقبولیت ګټلی ؤ اوزیات کسان به یې تراغیزی لاندی مسلمانیدل ، په دغه ډله کې داترپردیش شیام لال نومی هندو هم ؤ ، چې هغه هم زما کتاب لوستی ؤ اواسلام یې منلی ؤ ، هغه یوازی دلیدولپاره مدراس ته راغلی ؤ ، خو کله چې هغه ته دامعلومه شوه چې زه لا هنده یم نوهغه سخت پریشانه شو، له سترګو یې دباران په څیر اوښکی تویی کړی او په ډیره خواخوږی یې وویلی :
« ته نورو ته روښنایی وربښیی خوافسوس چې پخپله په تیارو کې سرګردانه یې »
دهغه دغه خبری زما په زړه کیناستی ، پر مایی بی شانه اغیزه وکړه ، زه هغه ته بی ځوابه وم خو دهغه خبری مې په غوږو کې کړنګیدی تردې چې ماتصمیم ونیوچې نور پخپله هم په دغه چینه خپله تنده ماته کړم چې تراوسه تری لرې وم.
ما د۱۹۸۶ کال دجون په شپږمه دجماعت اسلامی امیر ښاغلی اعجازاسلم ته احوال ورکړ چې زه زرترزره داسلام دین ته غاړه ایږدم ، ددی یو څه بندوبست وکړه هغه ځواب راکړ چې ته یوه اونی،نور هم فکراوغوروکړه ، خو ما اصرارکاوه چې داکاربه نن کیږی ، زه نورله دغه سعادت نه لرې نشم اوسیدای .
ځکه خوهغه « په هندکې داسلام دخپراوی کمیټی » سره تماس ونیو بیایې ماته ځواب راکړ چې نن دمازدیګر په لمانځه کې به دمدراس په مشهور جامع جومات « معمورجومات» کې دغه فریضه سرته رسیږی .

بالاخره مې داسلام مطالعه پیل کړه اودقران کریم انګریزي ترجمه مې ولوسته دقران دغې ترجمې زما په زړه اودماغ خواره ګردونه تکوهل ماته دخپلو پوښتنو ځوابونه پیداشول - دویرې اومایوسۍ خپسه رانه والوته

په ټاکلی وخت جومات داسلام دعلماو اوعامو مسلمانانو نه ډك شو ، مادټولو په وړاندی کلمه طیبه ولوستله ، اوداسلام په مبارك دین کې شامل شوم ،
په جومات کې تردیره وخته دتکبیر ناری ازانګی کولی ، وروسته بیاما لنډی خبری هم وکړی - چې نن زه دخپلو ورونو منځ ته راغلم ، دادخدای (ج) فضل دی - چې ماته یې هدایت وکړ اوزما سینه یې دایمان په نورړنا کړه - ماله څو کالو راهیسی داسلام مطالعه کړی اوزه په منطقی ډول اسلام منم کومه جذباتی پریکړه نه ده ، سره له دې چې ماپه اسلام کې ډیره مطالعه کړی خو زه بیاهم ستاسو په وړاندی یو ماشوم یم هیله ده ماترلاس ونیسی اوداسلام ټول احکام اومناسك راوښیی .
له دې نه وروسته هلته زما مسلمان ورونه ماته راترغاړی وتل اوزه یې ډیر استقبال کړم مادرښتینی وررور ګلوی خوند ولیداوماته داسی ښکاره شوه لکه له یوی تنګی اوتیاره کوټی نه چې یوه لوی واټ ته راوتلی وم .

دخلیج جګړه دحقایقو په ...

داچې دلته په پاکستان کی ځینی خلك صدام ته دمجاهد او دمسلمانانو دغمخوار خطاب کوی اوداچیغی وهی چې مورږ ځواودصدام له پوځ سره یو ځای دنورو په مقابل کی جنګیږو داټول ریاکارانه عمل اوله حقیقت څخه لیری کاردی ، اصلی خبره داده چی عام خلك دخپلی ناپوهی،له مخی داکارکوی اودهغو خلکو له خوا دی کارته تحریك کیږی چی دالحادی اوکفری طاقتونو له خوا دستور ورکړی شوی وی اودهمدی لپاره موظف شوی دی که نه دغه خلك کله چی په افغانستان کی دالحاد اوفساد پرضد وسله وال جهاد پیل شو اوبیا کله چی روسی پوځونه افغانستان ته راغلل ولی دمؤمنو افغانانو دملاتړلپاره اودروسانو دتجاوز په خلاف مظاهری نه کولی اوولی دغلته نژدی له افغانانو سره دالحاد اوفساد په خلاف جهاد کی برخه نه اخلی اویا هلته چی په کشمیر کی مسلمانان دهندوانو دظلم اوتشدد په خلاف راپورته شوی اوجهاد کوی ، دهغوی دملاتړ اودهندوانو دزورزیاتی دغندنی لپاره مظاهری نه کوی اوولی په جهاد کی دبرخی اخستلو لپاره نه ورځی ؟
له دی نه داسی معلومیږی چی داټولی مظاهری اواحتجاجی ناری سوری دنورو په لمسون اواشاره کیږی
دخلیج دجګړی اوکړکیچ دختمولو لپاره ترټولو غوره لارداده چی صدام چی په هره طریقه سره کیدای شی دی ته مجبورکړای شی چی له کویټ څخه خپل پوځونه وباسی اودکویټ ازادی اوخپلواك حیثیت دی تامین اوبرځای کړای شی .
دسعودی عربستان اوله هغی سره دملګرو قوتونو اصلی هدف اومقصد هم باید یوازی او یوازی دکویټ ازادی اوخپلواك حیثیت قایمول وی اوبس نه داچی دعراق ټوټی ټوټی کولو اوپرهغه باندی دقبضی کولو لپاره هڅه اواقدام وکړی .
سره له دی چی دصدام حسین په مشری عراقي حکومت په دی تیرو څوکلونو کی چی دافغانستان مجاهد ملت له روسانو اودهغوی له ګوډاګیانو سره په وسله وال جهاد بوخت دی همیشه دروسانو اودهغوی دمزدوررژیم ملاتړ کړی اودمؤمنو افغانانو په وړاندی یی دښمنانه دریځ نیولی بیا هم دافغانستان مجاهد ملت په عراق باندی دامریکا اودهغه دمتحدینو بی رحمانه بمباری غندی ، اوپه هیڅ صورت دعراق تجزیه کول اوپرهغی باندی دنورو سلطه قایمول نه غواړی.هسې نه چې یو بل لبنان ترې جوړشي په خلیج کی دامریکا اونورو کفری طاقتونو دپوځونو موجودیت په هیڅ صورت زموږ لپاره دتائید وړنه دی اوداموغوښتنه ده چی په دی منطقه کی زرترزره سوله اوامنیت قایم شی ، کویټ ازاد شي اوکوم تاوانونه چی دغو هیوادونو ته دجګړی په صورت کی وراوښتی دی دټولی نړی،دشتمنو هیوادونو له خوا دی ورسره مرسته وشی چی ددغه هیواد په اعماراوآبادی،کی تری کارواخستل شی . والسلام

دعصمت مسلم اودهغه ددلي ...

نورو منطقو ته لیږل کیدل) په سلګونو عسکر ، ټانکونه نقلیه وسایط اونور مهمات به دمجاهدینو داسلامی جذبې په اورونو کې وسوځیدل اوله منځه په ولاړل .

نوروسانو ددی مشکلاتو دله منځه وړلو په منظور عصمت مسلم چې دروسانو په دستور دڅور کودتا په لړیو کې یې دمجاهدینو په منځ کې ځای نیولی ؤ ، مناسب ترینه وسیله وګڼله اودروسانو په اشاره سره نوموړی دکندهار ښاردامنیت وزارت (پخوانی خاد) ددوولسم مدیریت سره اړیکی ټینګې کړې چې بالاخره په ۱۳۶۰ هـ ش کال کی دخپلی څو کسیزی ډلې سره یې روسانو ته په علنی ډول عسکری سلام وکړ. په دی وخت کی دعصمت ډلی کمیت خوراکم ؤ خودروسانو داستعماری تاکتیکونو په وجه دکندهار ولایت د« نورزایی » او« اڅکزایی » قومونو په منځ کی داختلاف اوترېګنی څپې ګړندی شوې څرنګه چې دکندهارولایت اړوند نورزایی قوم کمیت دهمدغه ولایت داڅکزایی قوم په پرتله زیات ؤ اوعصمت مسلم داڅکزیو په قوم پوری تړلی ؤ نوڅکه یو شمیر ناپوهه اودشخصی کینو څخه ډك اڅکزی اویو تعداد نورقماربازان اوغله دعصمت مسلم ډلې ته شامل شول اودروسانو لخوا دسپین بولدك اوکندهار هوایی ډګر ترمنځ دسرك امنیت اوساتنه ورته وسپارل شوه . روسانو په عصمت مسلم باندی یوازی دیوه کارعملی کول حتمی کړل اونورنو په هره بڼه چې وی باید خپله ډله چې وروسته بیا دمسلم ملیشی په نوم هم یاده شوه ، راضی اوخوښه وساتی .

هغه شرط داؤ چې دروسانو اویا د« واد » په اړوند دهغو اجنټانو امنیت وساتی اوکوم زیان ورته ونه رسیږی هغه چې دکندهار ښارڅخه دسپین بولدك ولسوالی له لاری دسرحد څخه تیریږی اوهم دهغوی چې دهمدی لاری څخه دکندهار ښارته راځی (په دی وخت کی دکندهار ښاردامنیت وزارت ریاست اودمزدور رژیم نوروارګانونو روسی مشاورین هرسهاردکندهار هوایی ډګرڅخه کندهار ښارته راتلل اودشپی لخوا بیرته هوایی ډګر ته راستنیدل) .

عصمت مسلم اوډلی یی همدا وظیفه لکه څنګه چې ورته سپارل شوی وه همغسی سرته رسوله خونورکړه وړه یی داسی ؤ :

په دی ډله کی خو تراوله هغه څوك شامل کیدل چې لا پخوا په جاهل ، شرابی ، چرسی ، قمارباز، داخلاقی ضعف اوجنسی انحراف درلودونکی ... ؤ اوکه چیری به کوم داسی بدبخت پیداشو چې نوموړی بدصفتونه به پکی کم ؤ اویابه یی استثنائ‌نه درلودل نودیر ژربه دعصمتیانو په اتڼ ورګډ شراودنورو پشان حیوانی خصوصیاتو درلودونکی انسان په تری جوړشو.

دسپین بولدك دبازار څخه نیولی بیا ترهوایی ډګر پوری هری پوستی دهر یوه موټر په سرچې ددی لاری څخه به تیریده پیسی اخستی خوپه اخیرنی برخه (پاټك) کی دعصمت مسلم په نوم په لړیو کی دهرموټر په سرسل سل زره افغانی اخستل کیدی اوبیا وروسته دپیسواخستلو کمیت زیات شو ، ددی لاری په اوږدو کی یی دهیڅ ډول بی ناموسی څخه ډډه نه کوله اودبی ناموسی سرحد آن تردی ورسید چې دکندهارپه ښارکی کوم چې دمزدور رژیم ترتسلط لاندی وُ . تنکی ځوانان نه شول ګرځیدی.

دروسانویو دهغو اهدافو څخه چې باید په افغانستان کی یی عملی کړی داؤ اودی چې په هره بڼه وی دروسی فیګاڅیا (دافغانی ټولنی څخه روسی ټولنی ته ورته ټولنی جوړول) پروګرام عملی کړی اودځناورتوب جنسی اړیکی اوجنسی انحراف قایم کړی او دعصمت مسلم ډله خو لا پخوا ددوی دپلانونو لپاره مناسبه اوعیاره شوی وه.

دپاملرنی وړ‌بله خبره داده چې دهرچاسره به روسانو مستقیمی اړیکی درلودلی په دی شرط چې څه ناڅه نظامی یا وسله واله ډله به یی درلوده نوپه کړو وړو کی خودمختاره ؤ اودیوه ځانګړی حکومت بڼه به یی درلوده نوهمداسبب ؤ او دی چې ترننن پوری په کابل اودمزدور رژیم ترتسلط لاندی ښارګوټو کی دیوه حکومت پرځای دروسانو ترقوماندی لاندی خپل سری څوحکومتونه په هغه اویادغه بڼه څرګندیده اوڅرګندیږی.

نوعصمت مسلم اوډله یی هم په چور اوچپاول اوبی ناموسی اودبی وزلو په وژنه کی پخپل سرؤ اوعصمت مسلم به چې څوك وژل نوبه یی په خوله کی پری شاجوره خالی کوله ځکه چې نه یوازی ډله یی بلکه پخپله عصمت مسلم دډیرو بی ګناه خلکو وژنی په اساس دسادیزم په سخته ناروغی اخته شوی ؤ دادانسانیت څخه وتلی انسان (عصمت) چاپخپل نوم نه شو بللی یعنی باید دپاچاصاحب په نوم یی بللی وای اودده ډلی به ورته مسلم پاچاویل ، بالاخره دعصمت او دده ډلی شراب خوری ، چرس څکول ، جنسی انحراف ، بداخلاقی ، چور اوچپاول ، بی ناموسی ، بی بندوباری ، بی انضباطی اوخپل سری هسی افراطی حد ته ورسیدل چې په بعضو ساحو کی یی دروسانو ګټې په خطر کی واچولی نوددی لپاره چې په غیر مستقیم ډول یی پکی داجنټوری اطمیناني فعالیت سرته رسولی وی اودروسانو دګټو مخالفو فعالیتونو مخه یی نیولی وی په ۱۳۶۵ هـ ش کال کی یی دکابل څخه دواد (خاد) تنکی ځوانان چې یوازی په فارسی ژبه ښه پوهیدل ، دنوموړی ملیشی په پوستو کی تقسیم اودسیاسی معاونینو پستونه یی ورته منظورکړل .

عصمت مسلم اوملیشی ته یی داسی ښودله چې ګنی داځوانان دستاسو دسلاګانو ، کارتوسو ، لوژستیکی موادو دکموالی اودی ته ورته نورو پرابلمونو درامنځ ته کیدو په صورت کی به درسره مرسته کوی.عصمت مسلم اوډلی یی په خورا ورین تندی قبوله کړل خودڅو میاشتو له تیریدو څخه وروسته کله چې نوموړی دواد کارکوونکی کابل ته په رخصتی ولاړل دځانونو سره یی تلویزیونونه ، ویډیو کستونه ، راډیو کستونه ، په بنډلو بنډلو پیسی یوړی اودعصمت ملیشی ورته خوراقدرورکاوه خوپه اخلاقی اوروحی لحاظ یی تردی حده راټیټ، خواراوذلیل کړی ؤ چې ډیرکم یی هم دشخصیت احساس نه شو کولی . « نوربیا »

مردم جمهوري های بالتیك...

اروپا وعده به ارزش هزارملیون دالر کمك مواد غذایی رابه روسیه قحطی زده داده که قسماً تحویل داده شده است .

برعلاوه آن مردم روسیه نیز درمسکو بابرپای تظاهرات عملیات مسلحانه علیه جمهوری های بالتیك راشدیداً تقبیح نموده خواستار استعفای گرباچف رئیس جمهور روسیه شدند.

بدنبال عکس العمل های شدید ملی وبین المللی گرباچف روسای جمهوری های روسیه رابه مسکو دعوت کردتادرباره بحث نمایند ازطرف دیگر پارلمان روسیه تصویب نمود که درماه مارچ سالجاری دررابطه به ساختمان سیاسی وتشکیلاتی آینده کشوردرسرتاسر انکشور همه پرسی براه انداخته شود وطی آن ازمردم روسیه پرسیده خواهدشد که ایامیخواهند دریك فدراسیون روسیه باقی بمانند ویانه .

بحران جمهوری های بالتیك روسیه جزیك بحران عمومی میباشد که سرتاسرروسیه را فراگرفته است مردم جمهوری های مختلف روسیه که دارای تاریخ ، فرهنگ سنن مختلف وازهم کاملاً متفاوت اند که جبراً تحت چکمه های دکتاتوری به اصطلاح پرولتاریا چون ماش ونخودباهم ناهمگون ونامیمون دریك ظرف انداخته شده اند که بابازشدن فضا هریك به سمتی می لولند.

سال گذشته جنبش ازادی خواهی اذربایجان ظالمانه ووحشیانه باکشتاربیش از یکصد نفر سرکوب شد جنبش های استقلال طلبی درجمهوری های ملداویا ، گرجستان نیز اوج میگیرد ونطفه های جنبش استقلال طلبی درجمهوری های تاجکستان ازبکستان ، ترکمنستان ، اوکراین وسایرجمهوری هادارد نضج می یابد

اینها سلسله انکشافات عمیق وبنیادی اند که بطرف تکامل یعنی به طرف اوجگیری جنبش استقلال طلبی ازحاکمیت ناموجه وغیر مشروع کمونیزم مسکوپیش میرود تامانند جنبشهای مردمی لیتوانیا ولاتویا به پختگی لازمی برسند .

کشورهای غربی درراس امریکا این ادعای کشورهای بالتیك راتائید می نمایند که آنها درزمان قبل ازجنگ جهانی دوم کشورهای مستقلی بودند بناء این امرجنبه تائید جنبش مردم جمهوری های بالتیك رانیز دارد وازهمین جهت است که کاربرد سلاح ازطرف عساکر روسی علیه مردم ملکی درین جمهوری ها درغرب انعکاس وسیع پیداکرد .

گرباچف بازرنګی همیشگی خویش میخواهد جنبش های استقلال طلبی جمهوری های مختلف رابه عناوین حقوق مساوی وغیره خنثی نماید ولی مردم جمهوری های محکوم مسکو طی سالهای گذشته عملاً درك کرده اند که تقبل رهبری کمونستان مسکو به معنی ادامه برده گی مانند گذشته خواهد بود بناً مردم جمهوری های محکوم بادادن قربانی ها ثابت می سازند که حاضر به قبولی ادامه حیات برده گی تحت تازیانه های کمونستی مسکو نیستند

دخلیج داوسنی جګړې په اړه دافغانستان دجهادي قوماندانانو دسرتاسري شورا

اعلامیه

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذی اصطفی وبعد:

درواني پیړۍ وروستی لسیزه داسلامی هیوادونو اوټولنو په تاریخ کې دمهمو اوژره دردوونکو پیښو شاهده وه.

له نن نه لس کاله دمخه دروسیې یرغلګرو قواو زموږ پرهیواد یرغل وکړ .

نهه کاله وړاندی په دواسلامی هیوادونو ایران اوعراق یوه خونړۍ جګړه تحمیل شوه.

دوکاله دمخه دهندي جاه طلبوواکمنو له خوا دکشمیری مجاهدینو دځپلو عملیه پیل شوه اوبابری جومات چې هلته خلکو دخدای (ج) عبادت کاوه ، دافراطي هندوانو له خوا اشغال اوبې احترامي یې وشوه.

دفلسطیني مبارزینو انتفاضه تحریك داسرائیلي یرغلګرو صهیونستانو له خوا په ډېرې بې رحمۍ اووحشت سره وځپل شو.

تراوسه چې لا دخلیج فارس له فضا څخه دایران اوعراق داته کلنې جګړې ګرد اوغبار نه ؤ لرې شوی دخلیج داسلامی هیوادونو ترمنځ غمناکه فاجعه او جګړه رامنځ ته شوه.

دغه فاجعه چې دعراق له خوا دکویټ دنیول کیدو اوکړکیچ دسیاسي حل لپاره دهلو ځلو دناکامۍ څخه وروسته پیل شوه ، له یوې خوا داسلامی هیوادونو دکمزورتیا ،تباهۍ اوددغو هیوادونو دمسلمانانو دبې رحمانه مرګ ژوبلې سبب شوه له بلې خوا یې په سیمه اواسلامي هیوادونو کې دبیګانه قواوو دموجودیت له پاره پلمه هم جوړه کړه.

موږ په داسې حال کې چې داسلامي شریعت داصولو ، احکامو اوبشري نړیوالواصولو اوموازینو له مخې دکویټ پرخاوره دعراق دبعثي رژیم تیری اویرغل په کلکه محکوموو دعراق پر مسلمان ملت اواسلامي مقدسو ځایونو دامریکا اودهغه دمتحدینو هوایي وحشیانه حملې او بمباری په کلکه غندو.

موږ هیله کوو چې په دغه خونړۍ جګړه کې ټول ښکیل اړخونه باید له قضایاوسره مسوولانه چلن وکړی ددغه خونړۍ جګړې دزیاتوالي اودوام مخه ونیسي اودسولې اونړیوالو حدودو دتأمین لپاره دې نورې مناسبې لارې چارې ولټي.

موږهیله کوو چې صدام حسین باید دکویټ له خاورې څخه دخپلو پوځونو دایستلو اوددغه هیواد دخپلواکۍ د په رسمیت پیژندلو پرینسټ دجګړې ددوام اوپه اسلامي هیوادونو اوسیمه کې دبهرنیو بیګانه قواو دموجودیت مخه ونیسي.

باید یادونه وکړوچې که چیرې داسرائیلو یرغلګراوغاصب رژیم له موقع څخه په ګټې اخیستلو سره دعراق پرخاوره یرغل وکړي ، په دغه صورت کې به دنړۍ مسلمانان دهغو په وړاندې بې توپیره پاتې نشي.

ومن الله التوفیق

دجهاد دقوماندانانو دسرتاسري شورې سیاسي کمیټه

د۱۳۶۹ هـ ش دسلواغې ۲

زموږمسلمان ملت !

له نوموړکړ تر...

دتوپونواوراکټونو نغمې دي ، دکوټر جامونه دي دبارو تو دتورولوخړواتن دی اودشهادت په لاره دننګیالیو بهیردی چې یوتربل دمخه کیږی اودخدای (ج) حضورته درومی ،

نن زموږملت هسې ملت دی چې دټولی نړۍ مسلمانان اومظلومان افتخارورباندی کوي .

نن زموږملت دیوه لوی تحریك ، یوه عظیم بدلون اویوې سترې حادثې نماینده ، سرلاری اواتل دی.

نورزموږ په هیواد کې سکوت اوچوپتیا نشته ، نورهلته دتیاروا‌وسکوت راج ختم شویدی .

خوا

پردی سربیره یوه نوې اندیښنه اویوه ځوروونکی وسوسه نوی نوی څوکی وهې اوسرراپورته کوی، چې یوځل بیا موږ له یوه سوری دوه ځله ونه چیچل شو یو ځل راباندی هغه پرونی دانګریزی ښکیلاك په وړاندی ګټلی ویاړدکوم بل «نادرشاه » دغاړی هارنشي اودیو څویولهوسو ، پلورل شویو اوبی ضمیرو په وجه مودملت عظیمه قربانی ، ستره فتحه اوستراافتخارد پردو دنیرنګ ښکارنشي !

خدای (ج) مه کړه ، خدای (ج) مه کړه ! خودا باید ووایو چې ملت خپل رسالت اومسؤلیت ترسره کړی دی ، ملت دشرف اوعظمت لاره خپله کړې ده اوس په قیادت اومشرتابه پورې اړه لري چې دمجاهد اومسلمان ملت دتورې اوقربانیو ساتنه څه ډول وکړی که قیادت له ملت سره کوم چل اوخیانت ونه کړی زموږباوردی چې داسلام اوشرف په لارکې دغه سرلوړی مسلمان ملت ترخپل وروستي وګړي قربانۍ پورې حاضر دی ، خوکه قیادت خیانت ونه کړي دملت دپټ ږغږې دچاپښو ته وانه چوي له دښمن سره پټ دخبرو په میزکښیننني اودخدای (ج) درضا اوملت دغوښتنو په خاطر له خپل شخصي موقف اومقام نه تیرشي دملت له غیرې داختلاف اونفاق خوړلن لرې کړي اوپرخپل باشهامته اومسلمان ملت پوره پوره اعتماد اوباوروکړي .

دخليج جګړه دحقايقو په رڼا کې

عمل نه دی کړی چې هغه دې داسلام اومسلمانانو په ګټه وي ، دملك په داخل کې يې دهغه چاپه مقابل کې چې دده مخالفت يې کړی اوپاورته دهغو څخه مخالفت احساس شوی له هيڅ ډول ظلم اواستبداد څخه ډډه نه ده کړې .

اودبهرنيو اوګاونډيو هيوادو سره يې هم تل دښمنانه رويه کړې او تل ورسره په نورو دتجاوز اوتيري فکرموجود ؤاودی .

هموارتاسې وليدل چې څرګاله پخوا يې دروس اوامريکا په دستور له اسلامي هيواد ايران سره جګړه ونښلوله اواته کاله پرله پسې ددواړوخواو دمسلمانانو وينې توی شوې،په لکونو مسلمانان يکې شهيدان شول ، يې شميره وګړي يکې معيوب شوو ، کورونه اوتاسيسات تخريب اوپه کنډواله بدل شول اوجګړه يې له کومې نتيجې پای ته ورسيده .

کاشکې چې ده خپله دغه قوه هغه وخت دفلسطين دآزادي لپاره داسرائيلو په مقابل کې استعمال کړې وای ، که له ده سره رښتيا هم اسلامي فکراوعقيده وای نوهيڅکله به يې له يو اسلامي هيواد سره جګړه نه وای کړې،بلکه داسلامي نړۍ دوحدت اوداختلافاتو دختمولو لپاره به يې کوښښ کړی وای.

څرمياشتې دمخه عراق پرکويټ باندې مستقيم تيری وکړ ، دهغه هيواد ټوله شتمني يې لوټ کړه ، نه يوازې داچې ديو اسلامي هيواد شتمني يې لوټ کړه،هغه يې دخپلې خاورې ديو جز په توګه اعلان کړ ،حتی په ډيرو ځايونو کې دهغه هيواد دمسلمانانو خلکو په ناموس هم تعرض وشو اوپه داسې اعمالويې لاس پورې کړ چې کفاروپه هم لاتراوسه دمسلمانانو په مقابل کې نه وي ترسره کړي ، نوبيا داڅنګه کيدای شي صدام دمسلمانانو په مقابل کې ددغه ډول جنايانو دترسره کولو وروسته هم دمسلمانانودعوه کوي اوځان داسلامي نړۍ غمخوارګڼي که ده رښتيا هم دفلسطين دمسلمانو خلکو سره همدردي درلودی نوده بايد مستقيماً په اسرائيلو حمله کړی وای بيا به نودنړۍمسلمانانو ته داخبرګنده شوې وای چې صدام حسين رښتيا هم دمسلمانانو غمخوار دی ، صدام څوکرهرغه لومړی دايران په اسلامي هيواد تيری وکړ ،خپل ملت يې هم په اقتصادي اومعنوي لحاظ تورتم توتې اوډيل کړ اودايران مسلمانو وګړو ته يې هم زيات مصيبتونه،تکليفونه ، مالي اوځاني تاوانونه ورواړول . دايران له مسلمان ملت سره دجنګ جګړې دپای ته رسيدو څخه وروسته لا دعراق دغم ځپلو مسلمانو خلکو ستوماني نه وه ختلې چې صدام په يو بل اسلامي هيواد يرغل وکړ اوپه اسلامي امت کې يې ديوې داسې فتنې اوشرجوړولو لپاره لاره هواره کړه چې دټولې اسلامي نړۍ دتباهۍ اوبربادۍ څخه پرته ترې بله نتيجه نشوه متصورکيدای،

همدغه کويټ اوسعودي عربستان ؤ، چې دمخه يې له عراق سره هميشه (خصوصاً دايران سره دجګړې په وخت کې) هرډول مالي مرستې وکړې خو دعراقي مشر صدام چې کله يې دتيري ، تجاوزغوښتو،اهي،روحيه اوجاه طلبۍ حس راوپاريده هغه يې له يوې مخې هيرې کړې ،په کويټ يې هم قبضه وکړه اودسعودي عربستان په شمول په خليج کې دنورو پرتو هيوادونو نيولو اولوټلو لپاره يې متې رازنغښتلې .

داپنځه مياشتې کيږي چې په کويټ يې قبضه کړې اوټوله نړۍ ورته غلرونه اوتوصيې کوي چې داعمل ډير تاوده عواقب لري ، بايد چې له کويټ څخه خپل پوځونه وباسي ، ترڅو دفتنې اوشر درامنځ ته کيدو مخه ونيول شي خودهيڅچا خبره يې ونه منله ، چې په نتيجه کې يې موجوده مرګ ژوبله ، تباهي ، اوبربادي رامنځ ته شوه اولا رامنځته کيږي،که له عراق سره دمقابلې لپاره دنورو غير اسلامي هيوادونو پوځونه دغې سيمې ته راغلي اوکه په نوروډول ډول اقداماتو لاس پورې شوی ددې ټولو برباديو اومصيبتونو اصلي عامل صدام دی .

سره له دې چې داډيره دافسوس خبره اودتاسف ځای دی اوحتی دمسلمانانو لپاره دخجالت خبره ده چې دکفري هيوادونو پوځونه راغلي اوپراسلامي هيوادودتيري مقابله کوي داکاره هيڅ مسلمان لپاره دتائيد وړنه دی،څکه چې کفر هيڅکله يې له کوم غرض څخه دمسلمانانو مرسته نه کوي اوکه کله کله دهمدردۍ اوغمخوارۍ،چيغې وهي ترشايې خپل شوم غرضونه اواهداف پټ وي .

خودلته دې خبرې ته هم پام پکاردی چې ددغې فتنې اصلي منشااواساسي عامل څوك دی چې دغې سيمې ته يې دکفري طاقتونو دراتګ اولاسوهنې لپاره زمينه برابره کړه ، نومعلومه خبره ده چې دفساد اوفتنې اصلي منشا ، صدام اودهغه حکومت دی چې فتنه يې رامنځ ته کړې ده .

ددغه روان بحران اوکړکيچ په روانده چې تن دمظاهرو اواحتجاجونو په شکل يوځای بل ځای کرم عکس العمل ښودل کيږي په دې هکله دحيرانتيا اوتعجب خبره داده چې دوی هغه وخت دامظاهرې،ته کولې چې عراق پرکويټ قبضه وکړه ، دهغه هيواد شتمني يې لوټ کړه اوهغه يې دخپلې خاورې جزاعلان کړ، دوی هغه وخت ولې چوپ پاتې وو؟

پاتې په ... مخ کې

جمهوري های بالتيك روسيه استقلال كامل ميخواهند

پارلمان جمهوری لاتويای روسيه فيصله نموده است تابخاطر دفاع ازخود نيروهای خاص تشکيل گردد.

طبق يك خبرراديوصدای امريكا اين فيصله بعدازان صورت گرفت كه درنتيجه برخورد پوليس لاتوياباقوای نظامی روس كه بمنظورخلع سلاح ازادی خواهان ان جمهوريت يورش بردند (٤) نفر لاتويايی كشته شدند.

طبق يك خبرديگر بدنبال حوادث درجمهوری های لاتويا وليتوانيا گرباچف روسای جمهوری های روسيه را بخاطر بحث بر موضوع به مسكو فراخوانده است .

اخبارواصله دررابطه حاكيست كه هزاران نفر درمسكو طی تظاهراتی برسياست گرباچف

درمقابل جمهوری های بالتيك شديداً اعتراض نموده خواهان استعفای گرباچف شدند.

بوريس يلتسين رئيس جمهور فدراتيف روسيه كه مخالف عمليات مسكو عليه جمهوری های بالتيك است نيز به تظاهر كنندگان پيام همنوايی وهمدردی فرستاده وبر سياست روان گرباچف شديداً انتقاد نموده است .

بايد گفت كه سه جمهوری بالتيك روسيه ليتوانيا ، استونيا ولاتويا قبل ازجنگ جهانی دوم كشورهای مستقل بوده ودرختم جنگ جهانی جبراً جز خاك روسيه استعمار گرشدند جمهوری های مذكور امروز باردیگر خواهان استقلال خويش ازحاكميت جابرانه مسكو اند .

په ايران کې د عراق (۸۰) الوتکې راکوزې شوې

دبي ،بي ،سي دخبرسره سم په ايران کې دعراق (۸۰) جنګي الوتکې راښکته شوي دي ، دبي ، بي ، سي راډيو په حواله عراق دغه الوتکې دله منځه تلو له ويرې ايران ته تښتولي دي ، له بلې خوا دايران حکومتي مامورينو ويلي دي چې دخليج دجګړې له پای ته رسيدو وروسته به دغه الوتکې بيرته عراق ته تسليم کړای شي

دامريکې له خوابه پرعراقي پوځونوګيس استعمال کړای شي

واشنګټن ددلوی ٦مه

دامريکې دمتحده اياﻻتو حکومت ، دعراق سره په جګړه کې بوخت دمتحده پوځ قوماندان ته ، دعراق د پوځونو او جنګي اسيرانو پرضد د« نه وژونکي ګيس » داستعمال اجازه ورکړې ده .

امريکني پوځيان غواړي چې پدې جګړه کې دې لږ کسان له مينځه لاړشي نوله همدی امله دنورو وسلو ترڅنګ به نه وژونکي ډوله ګيس هم خليج ته وليږدول شي .

دامريکې پوځونو بوه ويندوی ويلي دي چې دغه ډول ګيس به ددی اونۍ ترپايه پوری په خليج کې دمتحده پوځونو قوماندان ته ورورسيږي .

دجګړې ماهرينو پدی خبره باندی خپله نګراني ښودلی ، څکه دوی وايي چې په دې ډول به صدام حسين ته دکيمياوي وسلی داستعمال بهانه په لاس ورشي .

(٦) فروند طياره رژيم مزدور سقوط داده شد

راپورهای رسيده ازمنابع جهادي ولايت كابل حاكيست كه مجاهدين اين ولايت درطی عمليات متعدد خود ٦ فروند طياره رژيم مزدور را سقوط داده اند .

راپور افزوده است كه (٤) پيلوت ازاين طياره ها بقتل رسيده و(٢) تن آنها بعد ازاسارت بدست مجاهدين ازاعمال سابقه خويش اظهارندامت نمودند كه بعداً توسط مجاهدين رها گرديدند.

افغاني مهاجرينو ته دمرستودوام

اسلام اباد - ددلوی پنځم :

دپاکستان دحکومت او دمهاجرينو لپاره دملګرو ملتو دسازمان عالي کمشنری «U.N.H.C.R» ترمنځ يو تړون لاسليك شو چې دهغې په اساس به دغه اداره ، د(۱۹۹۱) کال په ترڅ په پاکستان کې ميشته دافغاني مهاجرينو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

ددی تړون په اساس به پاکستان ته ٤۳۲ ميليونه کلداری ورکول کيږي چې پر هغې به دافغاني مهاجرينو دصحت ، ښوونې اوروزنې اونور ضروريات پوره کيږي .

دهيئت تحرير ترنظر لاندې
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
يونيورستي تاؤن پيښور
تيلفون :... (٤۱۷٤٦)

دمزدور رژيم يوجنرال دمجاهدينو له خوا اعدام شو

دلوګرولايت څخه دعيني شاهدانو درپوټ مطابق دمزدور رژيم يونيول شوی جنرال چې دکابل دولتی امنيت دوزارت فعال غړی ؤ ، ورروسته له هغی چې تحقيقات يې مکمل شول ، څه موده مخکی دمجاهدينو په يوه محکمه کې په اعدام محکوم شو .

خبرزياتوی دغه جنرال چې محمد هاشم نوميده اودپروان ولايت اوسيدونکی ؤ دمحمد- اغی ولسوالۍ دفتحی په عملياتو کې په اسارت نيول شوی ؤ،

په نوموړی باندی دمحکمی فيصله دشرعی قوانينو سره سم ديو ګڼ شمير مجاهدينو په حضور کې عملی شوه .

دصوماليې پرصدارتي ماڼۍ باغيانو قبضه وکړه

نايروبی :

په صوماليه کی باغيانو ددغه هيواد په مرکزکې پر صدارتي ماڼۍ خپله قبضه ټينګه کړه اوجمهوررئيس سيدباری په ټانك کې کومې نامعلومې خواته وتښتيد ويل کيږی چې هغه له هيواده بهرته وتلی دی

امريکا روي اهداف خاص به پاکستان کمك ميکرد

اغازپارچه شدن امپراطوری روسيه درآسيای ميانه واستقرارقوای نظامی امريكا درساحات نفت خيز خليج باهمكاری مسكو فرضيه های راتغير داد كه مشی امنيتی امريكا درجنوب آسيا چهل سال روی ان استواربود.

اين مطلب دريك مقاله روزنامه كرسچين سائنس مانيتور چاپ ايالات متحده امريكا تذكررفته وعلاوه گرديده است كه همكاری ايالات متحده باپاكستان درمتوقف ساختن پيشروی روسيه درافغانستان نقطه اوج اين سياست بود .

هدف ازنزديكی امريكا وپاكستان اين بود تاروسيه رابادادن هشدارازخليج فارس دور نگهدارند . واضح است كه اين اهداف امروز جای خودرا به اهداف بعدی خالی كرده اند.

روزنامه علاوه ميكند بخش قابل توجه سياست امنيتی امريكا درجنوب آسيا تعهد مبنی برتقويت نظامی پاكستان بود زيرا پاكستان باموقعيت خود درنقطه اتصال دوپيمان (سياتو وسنتو) كه درسالهای ۱۹۵۰ تاسيس شد بخاطر جلوگيری ازتوسعه جويی روسيه اهميت بسزاكسب كرده بود ، پيوستن پاكستان باين پيمانهابود كه به مسلح ساختن اردوی اينكشور وخودداری ازاعطای همچو كمك به افغانستان منجر شد.

روزنامه كرسچين سائنس مانيتور درادامه نوشته است ، پاكستان ازاواخر سالهای ۱۹۷۰ برای امريكا ازاهميت بيشتری برخوردارگرديدوكانگرس ايالات متحده حاضر گرديد كه پاكستان رادرصف پنج كشورعمده دريافت كننده كمك های امريكا قراردهد.

صعود قيمت نفت بعدازسال ۱۹۷۳ كشورهای منطقه خليج فارس راازنگاه سوق الجيشی بااهميت ترساخت اماباسقوط شاه ايران بحيث يك متحد نزديك منطقوی امريكا درسال ۱۹۷۹ ولشكر كشی روسيه به افغانستان براهميت منطقه بيشتر افزون گشت.

روزنامه می افزايد : امريكا درانوقت به پاكستان بخاطری ضرورت داشت تاپيشرفت روسيه رابطرف بلوچستان ، خليج ودرنهايت بطرف ايران فاقد ثبات انوقت ، متوقف سازد ، اما اكنون كه بحران خليج بميان امده عساكر طيارات وكشتی های امريكا مستقيماً درمنطقه جايگزين شده اند اين قوادربرابر قوای روسی درافغانستان نه بلكه به، پشتيبانی وهمكاری روسيه مستقر شده اند ،